د بشري‌حقونو او بشردوستانه قانون لپاره

# د راول‌ولنبرگ‌انستیټیوټ

# په جلاوطنۍ کې د بشري‌حقونو ملاتړ

د بشري‌حقونو افغان مدافعینو لخوا په کاناډا، اروپا، برتانیا او متحده ایالاتو کې د غیردولتي‌مؤسسو د بیاتأسیس په برخه کې د ننګونو او فرصتونو راپور

مسعود ادرخش، د راول‌والنبرگ‌انستیټیوټ د څېړنو غړی

۲۰۲۲ - ۲۰۲۳

# ليکلړ

اجراييوي لنډيز ........ 5
پېژندنه ........ 6
ميتودولوژي ........ 8
د اطلاعاتو راټولولو ميتود ........ 8
د اطلاعاتو تحليلولو ميتود ........ 8
جوړښت ........ 9
لومړۍ برخه: تفصيل ........ 10
۱ – د بياجوړولو ننګونې ........ 10
۱.۱ – بشري منابع ........ 10
۱.۱.۱ – ادغام ........ 10
۱.۱.۲ – د لېوالتيا کمښت ........ 11
۱.۱.۳ – وړتيا ........ 12
۱.۱.۴ – روحي روغتيا ........ 14
۱.۱.۵ – د متخصصينو کمښت ........ 14
۱.۲ – مالي منابع ........ 15
۱.۲.۱ – د امکاناتو نه شتون ........ 15
۱.۲.۲ – لوړ لګښتونه ........ 16
۱.۲.۳ – د بانکي حسابونو پرانستل ........ 17
۱.۳ – تخنيکي وړتيا ........ 18
۱.۳.۱ – د حقوقي سيستم پېچلتيا ........ 18
۱.۳.۲ – د کار پيل ........ 19
۱.۳.۳ – بيوروکراسي ........ 20
۱.۳.۴ – بسپنه‌راټولونه ........ 21
۱.۳.۵ – مسلکي تطابق ........ 21

۲ - د بیاجوړونې فرصتونه ........ 23
۲.۱ - په جلاوطنۍ کې د بشري‌حقونو افغان‌مدافعینو انګېزه او ژمنتیا ........ 23
۲.۲ - د نړیوالو غیردولتي‌مؤسسو ملاتړ ........ 23
۳ - کاري ننګونې ........ 24
۳.۱ - د کرلو (دخولي) ننګونې ........ 24
۳.۱.۱ - د پیسو لېږد ........ 24
۳.۱.۲ - بسپنه‌ورکوونکي او د غیردولتي‌مؤسسو حالت ........ 25
۳.۱.۳ - خطرونه ........ 28
۳.۲ - د بهیر ننګونې ........ 29
۳.۲.۱ - ځان‌سانسوري ........ 29
۳.۲.۲ - د طالبانو فشار ........ 30
۳.۲.۳ - پایښت ........ 31
۳.۳ - د پایلو ننګونې ........ 32
۳.۳.۱ - د وجودي بقا پوښتنې ........ 32
۳.۳.۲ - د نوې ستراتیژۍ جوړول ........ 33
۴ - فعالیتي فرصتونه ........ 34
۴.۱ - څارنه او ثبت ........ 34
۴.۲ - هنر ........ 35
۴.۳ - نیاوغوښتنه ........ 35
۵ - پایله ........ 37
دویمه برخه: سپارښتنې ........ 39

په جلاوطنۍ کې د بشري‌حقونو ملاتړ: د بشري‌حقونو افغان مدافعینو لخوا په کاناډا، اروپا، برتانیا او متحده ایالاتو کې د غیردولتي‌مؤسسو د بیاتأسیس په برخه کې د ننګونو او فرصتونو راپور

© ۲۰۲۳ د راول‌والنبرګ د بشري‌حقونو او بشردوستانه قانون انسټیټیوټ

د راول‌والنبرګ‌انسټیټیوټ د څېړنو غړی: مسعود ادرخش

(۲۰۲۲ – ۲۰۲۳)

ISBN: 978-91-86910-59-4

لیکوال د ښاغلي اندریس لوینګ‌هالم، اغلې زوزانا زلنووا، ښاغلي مورټن کوښ اندرسن او ښاغلي ریچارډ بېنېټ څخه مننه کوي چې ددې راپور لپاره یې خپل مالومات شریک کړي. همدارنګه د ټولو هغو اشخاصو مننه هم کوي چې ددې راپور په مرکو کې یې ګډون کړی دی.

دا راپور د راول‌والنبرګ‌انسټیټیوټ د افغانستان پروګرام لخوا ترتیب شوی چې د سویډن د نړیوالې پراختیایي همکارۍ ادارې (Sida) لخوا یې مالي ملاتړ کړی.

*پدې راپور راغلي نظریات او خبرې د لیکوالانو دي او د انسټیټیوټ یا تمویلوونکي پورې هرو مرو اړه نه لري.*

راول والنبرګ د بشري‌حقونو او بشردوستانه قانون انسټیټیوټ

Stora Gråbrödersg. 17 B

P.O. Box 1155 - SE-221 05

لُنډ، سویډن

# اجراييوي لنډيز

**شاليد**: د ۲۰۲۱ کال د اګست په میاشت کې چې کله طالبانو کابل ونیوه، د بشري‌حقونو ډیری افغان مدافعین د اروپا، متحده ایالاتو، برېتانیا او کاناډا په څېر بهرنیو هېوادونو کې مېشت شول. ځینې لدې فعالانو وار له مخه هڅه کړې چې خپلې غیردولتي‌مؤسسې بیا راجوړې کړي او په جلاوطنۍ کې د افغانستان د بشري‌حقونو لپاره کار وکړي، خو پدې کار کې له جدي ننګونو سره مخ شوي دي.

**موخه:** ددې څېړنې موخه دا ده چې مالومه کړي چې: لومړی، د بشري‌حقونو افغان مدافعین په جلاوطنۍ کې د خپلو مؤسسو د بیااحیا او فعالیت په برخه کې له کومو ننګونو او فرصتونو سره مخ دي؛ او دوېم دا چې ددې ننګونو د اوارولو لپاره کومې سپارښتنې مناسبې دي.

**مېتود:** د ۲۰۲۲ کال په جولای او اګست میاشتو کې د هغو افغانانو سره مرکې وشوې چې پخوا د غیر دولتي مؤسسو رئیسان وو او اوس یې یا په اروپا، متحده ایالاتو، برېتانیا او کاناډا کې خپلې مؤسسې بیا جوړې کړي دي او یا یې د بیاجوړولو په درشل کې دي.

**پايلې:** په څېړنه کې وموندل شوه چې د بشري‌حقونو افغان مدافعین د بشري او مالي منابعو په ترلاسه کولو ستونزې او د تخنیکي او عملي چارو د ننګونو سره مخ دي. خو هغوی په افغانستان کې د بشري‌حقونو بدلون ته د ژمنتیا له مخې هڅه کوي چې د نړیوالو غیردولتي‌مؤسسو څخه بالقوه ملاتړ ترلاسه کړي؛ د بشري‌حقونو د جنایاتو د ثبت او مشاهدې موکه؛ په جلاوطنۍ کې د بشري‌حقونو اړوند د هنري پروګرامونو جوړولو موکه؛ او د بشري‌حقونو د بدلون لپاره له افغانستانه بهر د هڅو موکه د بالقوه فرصتونو په توګه وپېژندل شول.

**نتيجه:** د ننګونو ترڅنګ د بشري‌حقونو افغان مدافعین پراخه وړتیاوې هم لري لکه په افغانستان کې د تېرو شلو کلونو په موده کې د بشري‌حقونو په برخه کې ترلاسه شوې پوهه او تجربه؛ دوی د خپلو خلکو د بشري‌حقونو د وضعیت ښه‌کېدا ته ژمن دي؛ او دوی ته داسې زمینه مساعده شوې ده چې پر مټ یې کولای شي په جلاوطنۍ کې د افغانستان لپاره کار وکړي. نو ځکه ددوی ملاتړ یوازې په افغانستان د اوسني وضعیت د ښه کېدا له نه، بلکې د راتلونکې لپاره هم ښه دی چې کله وضعیت ښه شي او دوی بېرته خپل وطن ته ستانه شي. خو که چېرته دوی و نه توانېږي چې په جلاوطنۍ کې د بشري‌حقونو د مدافعینو په حیث کار وکړي او یا بېرته خپلې غیردولتي‌مؤسسې بیا جوړې کړي، نو ډېر امکان شته چې دوی نورې دندې یا چارې پیل کړي؛ د هغوی تجربه او تخصص به ضایع شي او افغانستان به د هغه ممکنه مثبتو تأثیراتو څخه بې‌برخې شي چې د بشري‌حقونو دې مدافعینو ښايي ترسره کړی وای.

**سپارښتنې:** لومړی باید د بشري‌حقونو افغان مدافعین بیا سره راټول شي په بېلابېلو پلټفارمونو کار وکړي. سپارښتنه کېږي چې تمویلوونکې ادارې او په ځانګړې توګه نړیوالې غیردولتي‌مؤسسې دوی ته د ظرفیت جوړونې ستراتیژیو له لارې حقوقي، مالي او تخنیکي ملاتړ ورکړي. لکه د بشري‌حقونو افغان مدافعینو ته مالي تمویل او یا اعزامي پروګرامونه ترتیب کړي چې د بشري‌حقونو د نقض ثبت او څارنه وکړي، د بشري‌حقونو لپاره هنري پروګرامونه جوړ کړي، د بدلون لپاره غږ پورته کړي، په ځانګړې توګه پرانستي مدني بحثونو ته لاره اواره کړي او په افغانستان کې د بشري‌حقونو ناره ژوندۍ وساتي.

## پېژندنه

د ۲۰۲۱ کال د اګست ۱۵مه د افغانستان د تېر شل کلن تاریخ یوه له ټولو ترخو ورځو وه. په هغه ورځ د افغانستان مخکیني جمهور رئیس اشرف غني افغانستان پرېښود او د افغانستان ریاستي ولسواک جوړښت د طالبانو پر لاسونو وپاشل شو. طالبان هماغه ډله ده چې په تېرو شلو کلونو کې د افغان دولت او نړیوالې ټولنې لخوا د یوې ترهګرې ټولنې په توګه پېژندل کېده. طالبانو د افغانستان د اسلامي جمهوریت اساسي قانون وځنډاوه او پر ځای یې د افغانستان اسلامي امارت اعلان کړ؛ یوازې د نارینه‌و او اکثراً پښتنو څخه جوړ یو مطلقاً فاسد حکومت چې د روحاني مشر یا امیر لخوا اداره کېږي. دې دراماتیک او غیرمتوقعه بدلون د افغانستان د ټولو خلکو په ژوند منفي اغېز وغورځاوه. د طالبانو د ګواښونو له امله ډېری خلک چې د خطر سره مخ وو، نورو هېوادونو ته لاړل. ددغه خطر سره مخ خلکو له ډلې یوه ډله چې د طالبانو د اصلي اهدافو څخه وو، د بشري‌حقونو مدافعین وو.

د بشري‌حقونو افغان فعالان چې ډېرو یې د افغانستان دولت له سقوط څخه مخکې په نادولتي مؤوسسو کې کار کاوه، په هېواد کې د بشري‌حقونو او خپلواکې مدافعین دي او له کلونو راهیسې یې د ولسواک حکومت د پیاوړتیا لپاره کار کړی دی تر څو په افغانستان کې داسې یو وضعیت رامنځته کړي چې د افغانستان هر وګړی له خپلواکۍ او بشري‌حقونو خوند واخلي. کله چې طالبانو واک په لاس کې واخیست، د بشري‌حقونو افغان فعالان د نړۍ بېلابېلو برخو ته وکوچېدل او د هغوی نادولتي‌مؤسسې یا وتړل شوې او یا یې هم له بشري‌حقونو څخه تمرکز واوښت. لدې سره سره، د طالبانو له واکمنېدو څخه او د بشري‌حقونو د فعالانو له مهاجر کېدو یو کال وروسته د بشري‌حقونو ځینو افغان فعالانو خپلې هڅې بیا پیل کړې چې په جلاوطنۍ کې د بشري‌حقونو اړوند خپلې نادولتي‌مؤسسې بیا جوړې کړي. خو دوی د ننګونو سره مخ دي.

دا څېړنه په همدې موخه وشوه چې د بشري‌حقونو افغان فعالانو په مخ کې ننګونې او فرصتونه مشخص کړي؛ لومړی د نادولتي‌مؤسسو په بیاجوړولو کې او ورپسې د هغوی په چلولو کې ننګونې او فرصتونه په یو راپور کې وړاندې کړي. د څېړنې د موندنو پر اساس به په هغه راپور کې بېلابېلو ښکېلو غاړو ته ځینې سپارښتنې او مېکانیزمونه وړاندې شي چې هغوی څرنګه د بشري‌حقونو افغان مدافعینو سره کار کولای شي تر څو په افغانستان کې د بشري‌حقونو وضعیت ته بدلون ورکړي.

ددې څېړنې لپاره د بشري‌حقونو ۱۲ تنه داسې افغان فعالانو سره مرکې وشوې چې هغوی د بشري‌حقونو په برخو کې د خپلو غیردولتي‌مؤسسو رئیسان وو. کله چې مرکې بشپړې شوې، بیا لیکلې بڼې ته واړول شوې او ورپسې اړوندې موضوع ته په پام د قیاسي او استنتاجي مخلوطو طریقو پر مټ تحلیل شوې. لدې ارزونو څخه اووه عام موضوعات رابرسېره شول چې پدې راپور کې د دوه عمومي موضوعاتو (په جلاوطنی کې د بشري‌حقونو افغان فعالانو لخوا د نادولتي‌مؤسسو د بیاجوړولو او چلولو **ننګونې او فرصتونه**) لاندې تر بحث لاندې نیول شوي دي.

# میتودولوژي

## د اطلاعاتو راټولولو میتود

د څېړنې لپاره د اطلاعاتو راټولولو لپاره د بشري‌حقونو ۱۲ تنو افغانو مدافعینو سره چې اووه یې نارینه او پنځه یې مېرمنې وې، د ۲۰۲۲ کال د جولای او اگست په میاشتو کې مرکې وشوې؛ دوی پخوا د خپلو نادولتي‌مؤسسو رئیسان وو او اوس په اروپایي هېوادونو، برېتانیا، متحده ایالاتو او کاناډا کې مېشت دي. پر دې پوهېدلو لپاره چې د بشري‌حقونو مدافعین په انفرادي او ټولیزه توگه په جلاوطنۍ د خپلو فعالیتونو بیاراژوندي کولو لپاره له کومو حالاتو تېرېږي، د مرکو ترسره کول یې تر ټولو غوره لاره وه. مرکې د زوم او وټسپ پرلیکه پلټفارمونو پر مټ ترسره شوې چې په جلاوطنۍ کې د نادولتي‌مؤسسو د بیاجوړولو او چلولو په اړه یې جوړښتي او پرانستې پوښتنې درلودې. مرکې کابو ۳۰ پوښتنې درلودلې، خو له هر چا د هغوی د شالید او اوسني وضعیت ته په کتو جلا پوښتنې وشوې. په مرکه کې بحث هم کېده چې کابو یو ساعت وخت یې ونیوه. د پوښتنو ترتیبولو لپاره له قیاسي طریقې څخه کار اخستل شوی ؤ تر څو مالومه کړي چې د بشري‌حقونو مدافعین له کومو بالقوه ننگونو او فرصتونو سره مخ کېږي. د مرکې په پای کې له ځواب‌ویونکو غوښتل کېدل چې که غواړي د موضوع اړوند داسې یو اضافه کړي چې په پوښتنو کې پوښتل شوي نه وي. پر دې سربېره په دې راپور کې له هغو موندنو هم یو څه کار اخستل شوی دی چې په جلاوطنۍ کې د بشري‌حقونو افغان مدافعینو د وضعیت ارزونې په اړه د بشري‌حقونو د ۱۲ افغان فعالانو په ستراتیژیکه ناسته کې ترلاسه شوې وې. نوموړې ناسته د ۲۰۲۲ کال اکتوبر ۱۷-۲۰ د سویس په جینیوا ښار کې د شکنجو پر ضد د مبارزې نړیوالې ادارې (OMCT) لخوا دایره شوې وه.

## د اطلاعاتو تحلیلولو میتود

د مرکو ترسره کولو او ثبت وروسته له لاسي طریقې په کار اخستلو سره لیکلې بڼې ته واړول شوې. د پوښتنلیک جوړولو پړاو کې د پوښتنو جوړولو لپاره له قیاسي طریقې کار اخستل شوی ؤ، خو د ارزونې پړاو کې بیا د اطلاعاتو راویستلو او ارزونې لپاره له استنتاجي او موضوعي تحلیل طریقو کار واخستل شو. ددې دلیل دا ؤ چې ځان د هغو موضوعاتو پورې محدود و نه ساتو چې په پوښتنلیک کې راغلي دي او هغه موضوعات هم پکې راونغاړو چې د مرکو له ترځه راووځي. نو ځکه پدې راپور کې راغلي موضوعات د مخلوطې طریقې پایله ده؛ یعنې هم پکې قیاسي طریقه او هم پکې استنتاجي طریقه او همدرانگه د موضوعي تحلیل میتود کارول شوی دی.

# جوړښت

دا راپور پر دوه برخو وېشل شوی دی: ۱ – تفصیل او ۲ – سپارښتنې

په اوله برخه کې؛

۱ – هغه ننګونې او فرصتونه یاد شوي چې په جلاوطنۍ کې د نادولتيمؤسسو د بیاجوړولو پورې تړلي دي؛
۲–هغه ننګونې او فرصتونه یاد شوي چې په جلاوطنۍ کې د نادولتيمؤسسو د چلولو یا فعالیت پورې تړلي دي.

په دوېمه برخه کې د بشريحقونو جلاوطنه افغان مدافعینو، بسپنهورکوونکو، نړیوالو نادولتيمؤسسو، دولتونو او یوناما لپاره ۱۵ سپارښتنې راغلي دي.

# لومړۍ برخه: تفصیل

## ۱ – د بیاجوړولو ننګونې

پدې برخه کې هغه ننګونې یادې شوي دي چې د بشري‌حقونو افغان مدافعین په جلاوطنۍ کې د نادولتي‌مؤسسو د بیاجوړولو په برخه کې ورسره مخ شوي دي. د ترانسکرپټ او کوډونو له ارزونو وروسته مالومه شوه چې د نادولتي‌مؤسسو بیاجوړولو په تړاو ننګونې پر درې عمومي برخو وېشل کېدای شي: ۱ – بشري منابع، ۲ – مالي منابع، او ۳ – تخنیکي وړتیا.

### ۱.۱ – بشري منابع

دا مسئله د غیردولتي‌مؤسسو کارمندانو ته راجع وه. د اطلاعاتو له تحلیل څخه مالومه شوه چې د بشري منابعو مسئلې پنځه فرعي برخې درلودلې: ۱ – د ادغام ننګونه، ۲ – د لېوالتیا کمېدل، ۳ – وړتیا او د تجربو کمښت، ۴ – روحي فشار او رواني ضربه، او ۵ – د متخصصینو کمښت

#### ۱.۱.۱ – ادغام

د بشري‌حقونو افغان مدافعینو لپاره په نویو هېوادونو کې مدغم کېدل تر ټولو عامه ننګونه ده. د ویزې او اقامې نوي کول، د کلتور او په ځینو حالاتو کې د نوي ژبې زده‌کړه هغه سترې ننګونې دي چې د فعالانو بېامېښتېدنه، د فعالیتونو بیاپیلول او د نادولتي‌مؤسسې بیاجوړول یې د خنډونو سره مخ کړي دي. په ځینو حالاتو کې په تېره بیا په متحده ایالاتو کې د بشري‌حقونو د مدافعینو حقوقي حالت او د اقامت وضعیت روښانه دی؛ که څه هم هغوی هلته بیامېښت شوي دي او شالید یې کوربه هېوادونو ته ورمعلوم دی. هغوی له خپل راتلونکي او په هغه هېواد کې د اوسېدو څخه مطمئن نه دي، نو ځکه نشي کولای چې په جلاوطنۍ کې د خپلې نادولتي‌مؤسسې د بیاجوړولو لپاره سترې هڅې ته لاس واچوي.

د افغان مېرمنو شبکې رئیسه اغلې ماري اکرمي چې اوس په امریکا کې اوسېږي؛ د اقامت او ویزې له ستونزې سره لاس او ګرېوان ده او نه توانېږي چې د خپلو شخصي ستونزو له امله په ټولنه کې ادغام شي. هغه وایي: «زموږ

برخلیک لا تر اوسه روښانه نه دی»[1]، مطلب یې دا دی چې ویزه ورته د یو خاصې مودې لپاره ورکړل شوې وه او نه پوهېږي چې د هغې مودې له پوره کېدو وروسته به څه کېږي. کله چې له هغې څخه په امریکا کې د هغې د مؤسسې د راتلونکې وضعیت په اړه وپوښتل شول، هغې څو ځلي د ادغام مسئلې ته په اشاره وویل، «زه واقعاً داسې ستونزو او ننګونو سره لاس او ګرېوان یم چې زما له فکره پورته دي»[2]، پر هغو شخصي ستونزو یې ټینګار کاوه چې په جلاوطنۍ کې ورسره مخ ده.

د ژبې ستونزه خاصتاً په اروپایي هېوادونو کې هغه بله ستره ننګونه ده چې د بشري‌حقونو مدافعین ورسره مخ دي. د نوې ژبې زده کړه ډېر وخت او هڅو ته اړتیا لري او په ځېنو هېوادونو کې اسناد په انګلیسي ژبه لیکل شوي نه دي. د بشري‌حقونو ځینې مدافعین په انګلیسي ژبه هم ډېر روان تسلط نه لري چې په ټولنه کې پرې په مناسبه توګه چارې پرمخ بوځي. ددغې ستونزې له امله هغوی د سیمه‌ییزو چارواکو سره اړیکې نشي پاللی او د بشري‌حقونو د کار په برخه کې ورسره خپلې سپارښتنې شریکولای نشي. لدې وراخوا باید دوی د ادغام بهیر د یوې برخې په توګه د ژبې کورسونو ته حاضر شي چې دا پخپله د بشري‌حقونو د چارو څخه ددوی وخت محدودوي. ددغه خنډ له امله د بشري‌حقونو جلاوطنه مدافعین په ځانګړې توګه په اروپایي هېوادونو کې مېشت هغه یې مطمئن نه دي چې چټکه توګه به په ټولنه کې مدغم شي – په ځانګړې توګه د بشري‌حقونو د چارو په برخه کې کاري بازار ته ننوتل ورته ډېر ستونزمن دي، ځکه دوی پوهېږي چې د ژبې څومره لویه ستونزه ده.

## ۱.۱.۲ – د لېوالتیا کمښت

د بشري‌حقونو ځینې مدافعین چې پخوا یې په غیردولتي‌مؤسسو کې کار کاوه، نورو هېوادونو کې له مېشتېدو وروسته یې له پخوانیو مؤسسو سره اړیکې پرېښودې. دوی له افغانستانه د یو منظمې تخلیې او بیامېشتېدنې پروګرام له مخې را و نه وتل، ځینې یې مخکې ځینې وروسته، ځینې یو هېواد او ځینې بل هېواد ته او ځینې یې په افغانستان کې پاتې شول. د فعالانو دغې پاشلې مېشتېدنې د هغوی د اداري اړیکو احساس کمزوری کړی دی او که کومه غیردولتي‌مؤسسه د خپلو پخوانیو کارمندانو پر متې د بیاجوړېدو یا یوځای‌کېدو هڅه وکړي، نو ډېر وخت به ونیسي. حتی که چېرته په دا بېلابېلو هېوادونو او د وخت په مختلفو زونونو کې د بشري‌حقونو مدافعینو د ګډ کار سره لېوالتیا کمه هم نه شي، خو دا پاشلی وضعیت به یې د کار پر مؤثریت او ګټورتیا منفي اغېز پرېباسي. نه یوازې دا چې هغوی فزیکي پته او ادرس نه لري، هغوی حتی د پرلیکه فعالیتونو په همغږۍ کې هم پاتې راغلي دي، لکه د افغان مدني ټولنو د فورم اجرائیوي رئیس عزیز رفیع چې وویل، «زموږ یو له سترو ننګونو

---

[1] ماري اکرمي، امریکا، ۲۷ اګست ۲۰۲۲

[2] ماري اکرمي، امریکا، ۲۷ اګست ۲۰۲۲

دا ده چې باید ۲۴ساعته کار وکړو، پدې مانا چې موږ د کابل، اروپا، او په کاناډا کې د نورو ځایونو سره د وختونو توپیر لرو او د خپلو همکارانو سره مو په ناستو کې همغږي نشته»[3]. که هغوی پر یو وخت ناستې نشي کولای، نو دا نه یوازې چې یوه لوژستیکي ستونزه رامنځته کوي، بلکې د هغوی د هغوی د فعالیتونو پر پایلو هم منفي اغېز پرېباسلای شي.

د بشري‌حقونو ځینې مدافعان بیا په غیردولتي‌مؤسسو کې د بیا کار پیلولو ته زړه نه ښه کوي، ځکه په جلاوطنۍ کې د بشري‌حقونو هڅې او د غیردولتي‌مؤسسو کارونه ورته پایداره چارې نه ښکاري. دوی په دې اند دي که دوی پر غیردولتي‌مؤسسو یا په هغې کې کار کولو باندې ډېر تمرکز وکړي، په نوې ټولنه کې د ادغام لپاره به د نوې پوهې او تجربې ترلاسه کولو موکه له لاسه ورکړي. په ورته وخت کې دوی په هغه ټولنه کې د خپل راتلونکې په اړه هم کوم روښانه تصویر نه لري. خو بیا هم ځینو یې د بشري‌حقونو د غیردولتي‌مؤسسو سره د بیایوځای کېدو پرځای غوره وګڼله چې په خپلو سیمو کې مدغم شي.

د غیردولتي‌مؤسسو د رئیسانو سره په خبرو کې ځینو یې وویل چې د هغوی یو شمېر کارمندانو یې د غیردولتي‌مؤسسو سره کار پرېښې دی؛ یا یې نوې دندې موندلي، یا یې خپلو زده‌کړو ته ادامه ورکړې او یا یې کومې نوې کاري رشتې ته مخه کړې ده. د غیردولتي‌مؤسسو رئیسان لدې کاره خوښ نه دي، خو البته چې پدې برخه کې څه کولای هم نشي. دا د بشري‌حقونو د مدافعینو حق دی چې د کار او ژوند نورو برخو ته تلای شي، خو په ورته وخت کې دې ته بیا په افغانستان کې د بشري‌حقونو ملاتړ د نیمګړتیا په توګه هم لیدل کېږي.

## ۱.۱.۳ – وړتیا

په افغانستان کې د غیردولتي‌مؤسسو د چارو په پرتله په اروپایي هېوادونو، کاناډا، متحده ایالاتو او برېتانیا کې د نورو مواردو ترڅنګ د غیردولتي‌مؤسسو د چارو معیارونه هم توپیر لري. په افغانستان کې د بشري‌حقونو ټولو مدافعینو کومه داسې علمي مخینه یا تجربه نه درلوده چې د نورو هېوادونو چاپېریال کې په اسانۍ سره کار ته چمتو شي. د بشري‌حقونو ډېری مدافعینو دغه ستونزه په ګوته کړه او د خپلو نویو هېوادونو د غیردولتي‌مؤسسو چاپېریال کې یې د کار کولو لپاره د اړینې وړتیا نشتوالي ننګونې ته اشاره وکړه. په افغانستان کې د باکیفیته پوهنې او روزنې د ملاتړ غورځنګ اجرائیوي رئیس محمد رحیم جامي چې اوس په کاناډا کې مېشت دی، وویل:

3 عزیز رفیعي، کاناډا، ۲۳ جولای ۲۰۲۲

*«زموږ د کارمندانو پوهه او تجربه د افغانستان پر معیارونو جوړه وه، خو هغه معیارونه دلته د منلو نه دي. نبايي د بشري‌حقونو د مدافعینو یوازې ۱۰٪ یې داسې علمي مخینه ولري چې دلته د منلو وي، پاتې ۹۰٪ یې نبايي رد شي.»*[4]

هغه زیاته کړه چې هغوی د نړیوالو نادولتي‌مؤسسو لخوا د اړتیا پر اساس جوړو وړتیا لوړونې پروګرامونو ته اړمن دي، تر څو وکړای شي په جلاوطنۍ کې د خپلو نادولتي‌مؤسسو چارې په ښه توګه پر مخ بوځي.

که څه هم د بشري‌حقونو ځینې مدافعین د کوربه هېواد په ژبه نه پوهېږي، هغوی انګلیسي ژبې ته لومړیتوب هم نه ورکوي چې دې سره د هغوی کار لا پسې ستونزمنېږي. که هغوی په سیمه‌ییزه ژبه پوه نه شي، هغوی د سیمه‌ییزو ادارو سره کار هم نشي کولای. په انګلیسي نه پوهېدو له امله هغوی په هېواد کې دننه او بهر د نړیوالو ادارو سره اړیکې هم نشي جوړولای چې دا اړیکې او شبکې پخپله د غیردولتي‌مؤسسې د جوړولو او فعالیت لپاره د بشري‌حقونو د مدافعینو اصلي ابزار دي.

د پروپوزل لیکنې او اداري ستراتیژۍ او نور اسنادو جوړولو په څېر یو شمېر نور مسلکي او عملي مسایل هم شته چې د بشري‌حقونو مدافعین ورسره مخ دي. د ښځو لپاره د ښځو د پیویستون ټولنې ( Associazione di solidarietà donne per le donne) د مرستیالې مشرې شهربانو حیدري، د بشري‌حقونو یوه فعاله چې اوس په ایټالیا کې مېشته ده، وایي «موږ دلته د پروپوزل لیکنې سره اشنا نه وو. موږ وروسته پوه شو چې د پروپوزل لیکنې اروپایي بڼه له امریکایي هغې توپیر لري، د کومې په اړه چې موږ ډېر نه پوهېدو»[5]. ښايي دا یوه داسې کوچنۍ ستونزه وي چې د بشري‌حقونو مدافعین یې په یوه طریقه حل کړي، خو بیا هم د یوځای کېدو او په تېره بیا د غیردولتي‌مؤسسو فعالیت پر وړاندې خنډونه جوړولای شي. د بېلګې په توګه، د پروژو ترلاسه کولو لپاره معیاري پروپوزل ته اړتیا ده؛ چې په هغې کې د پروژې د بېلابېلو اړخونو مسلکي تحلیل شوی وي او پروژې ستونزه، ښکېلې غاړې، موخې او د بشري‌حقونو د مدافعینو لپاره د ډېرې مهمې برخې په توګه د چارو او موخو څارنې او ارزونې برخې پکې رانغاړل شوي وي. ښکاري چې د افغانستان لپاره ډېری غیردولتي‌مؤسسې په جلاوطنۍ کې کار کوي او هغوی ډېرو مسلکي مهارتونو ته اړتیا لري چې بسپنه‌ورکوونکو ته قناعت ورکړي چې دوی په جلاوطنۍ کې پروژې او پروګرامونه پلي کولای شي.

---

4 محمد رحیم جامي، کاناډا، ۲۷ جولای ۲۰۲۲

5 شهربانو حیدري، ایټالیا، ۳ اګست ۲۰۲۲

## ۱.۱.۴ - روحي روغتیا

د ۲۰۲۱ کال د اګست پنځلسمه د افغانانو لپاره نه یوازې چې غیرعادي ورځ وه، بلکې ډېره لړزوونکې هم وه. د نورو مواردو ترڅنګ د تېرو شلو کلونو په دوران کې د افغان دولت او نړیوالې ټولنې لخوا د ارزښتونو ساتلو ژمنو ته په کتو، خلکو د دومره چټک او ډراماتیک بدلون تمه نه درلوده. خو بیا هم د بشري‌حقونو او فردي خپلواکۍ د ارزښتونو درلودونکی ولسواک حکومت چې خلکو یې د ټینګښت لپاره لسیزې جګړه کړې وه، د سترګو په رپ کې له منځه ولاړ. دغه بوړنوونکي بدلون د بشري‌حقونو مدافعین، سیاسي فعالان، نظامي پرسونل، مېرمنې او د رسنیو کارمندان له خطر سره مخ کړل.

د بشري‌حقونو د مدافعینو سره په خبرو کې روښانه شوه چې په افغانستان کې دننه او بهرمېشتي د بشري‌حقونو مدافعین د طالبانو له واکمنېدو وروسته روحاً ستړي دي. عزیز رفیعي د افغانستان د وضعیت په اړه وایي، «په افغانستان کې د کار کولو روحیه له منځه تللې ده او چاپېریال زندۍ کوونکی دی»[6]. د چارمغز غیرانتفاعي ادارې بنسټ‌اېښودونکې او رئیسه فرشته کریم په افغانستان کې د خپلو همکارانو په اړه وایي، «زموږ کارمندانو روحي شوک لیدلی، انګېزې یې بیخي بدلې شوي دي، د ځینو انګېزه [د کار کولو لپاره] ډېره شوې ده، خو [په دې نوي چاپېریال کې] له ګرځېدو ستړي شوي دي»[7]. یوازې هغه خلک روحاً تر فشار لاندې نه دي چې په افغانستان کې پاتې دي، بلکې د بشري‌حقونو هغه مدافعین چې په نورو هېوادونو کې مېشت شوي دي هم له ورته ستونزې کړېږي. لکه ماري اکرمي چې وايي، «زه له ډېرو کلونو راهیسې د هغو مېرمنو لپاره کار کوم چې د کورنی تاوتریخوالي متضررین دي، خو اوس وینم چې پخپله یوه متضرره یم. زما برخلیک او راتلونکی مالوم نه دی چې څه به کېږي او څه به نه کېږي»[8]. دغه ازمېښتي حالت چې د ثبت بهیر له پېچلتیا او د مهاجرو په حیث د بشري‌حقونو مدافعینو له نازک‌حال سره یوځای شي، په جلاوطنۍ کې د غیردولتي‌مؤسسو د بیاجوړولو او فعالیت چارې لاپسې ستونزمنې کړي.

## ۱.۱.۵ - د متخصصینو کمښت

دا چې د غیردولتي‌مؤسسو غړي د افغانستان له سقوط وروسته نورو هېوادونو ته لاړل، د ادارو رئیسان خپلو مؤسسو لپاره د مسلکي کسانو په موندلو کې له ننګونو سره مخ دي. د بېلګې په توګه، د افغانستان د ولسواکۍ او پراختیا

6 عزیز رفیعي، کاناډا، ۲۳ جولای ۲۰۲۲

7 فرشته کریم، برتانیا، ۲۵ اګست ۲۰۲۲

8 ماري اکرمي، متحده ایالات، ۲۷ اګست ۲۰۲۲

اداري (ADDO) رئیس عبدالله احمدي وايي چې دوی باید د ښې پوهې او تجربې کسان وومي. همداشان د خطر کمولو او مصؤنیت اداري (SRMO) رئیسې حوریې مصدق وویل:

*«د بشري‌حقونو لوی شمېر مدافعینو هېواد پرېښی دی، او هغو چې په افغانستان کې نوی کار پیل کړی دی، په کارپوهېدا لپاره ډېر کار ته اړتیا لري. او هغه تشه چې رامنځته شوې، ښايي په یوه لسیزه کې هم ډکه نه شي»*[9].

دا وضعیت په ځانګړي ډول د هغه غیردولتي‌مؤسسو دی چې په افغانستان کې دفتر یا څانګه لري. نو په همدې خاطر دوی له افغانستانه بهر کارمندانو ته اړتیا لري چې تخنیکي فعالیتونه یې پر مخ بوځي او د مؤسسو اړتیاوې یې ورپوره کړي.

د متخصصینو دا کمښت د بشري‌حقونو په ښځینه مدافعینو کې بیخي ډېر دی، ځکه په افغانستان کې د بشري‌حقونو لایقه ښځینه مدافعینې موندل او ګمارل ستونزمن کار دی. د راتلونکي مستعد افغانستان مرستیال مشر، رؤوف مدقق وايي: «د وړ ښځینه کارمندانو موندل یوه ننګونه ده. ځکه یو خو ډېر خلک هڅه کوي چې هېواد پرېږدي، او بل دا چې طالبانو په کورنیو کې نارینه د ښځینه‌و مسؤولین ګرځولي دي»[10]. لدې امله ښځې په خپلواکه توګه په ټولنه کې ګډون او په ادارو کې کار نشي کولای ځکه ځینې سړي دا خطر پر غاړه نشي اخستلای چې د طالبانو لخوا مجازات شي، پدې خاطر چې د کورنۍ مېرمنې یې د بېرون تګ یا په دفترونو کې د کار لپاره د طالبانو لخوا جبري شوی حجاب یا برقع نه اغوندي.

## ۱.۲ – مالي منابع

مالي مسایل د بشري‌حقونو د افغان مدافعینو یوه بله ستره ننګونه ده چې په جلاوطنۍ کې د خپلو نادولتي‌مؤسسو د بیاجوړولو پرمهال ورسره مخ کېږي. د ګڼو مالي ننګولو له ډلې، څلور یې د پام وړ وو:

### ۱.۲.۱ – د امکاناتو نه شتون

ددې لپاره د بشري‌حقونو مدافعین په جلاوطنۍ کې غیردولتي‌مؤسسه بیاتأسیس کړي، دوی باید لېترلږه ځانګړي کارمندان ولري، د سیمه‌ییزو دولتي ادارو سره ثبت وي، داخلي اسناد یې بیاځلي لیکل شوي وي، او د بانک ځانګړی حساب ولري چې دا ټول کارونه مالي امکاناتو ته اړتیا لري. ځینې نادولتي‌مؤسسې په افغانستان کې په بانکونو کې پیسې لري چې کنګل شوي دي او اوس ورته لاسرسی نه لري. که غیردولتي‌مؤسسه وغواړي چې په جلاوطنۍ کې فعالیت وکړي، دوی باید د وړتیا جوړونې، څېړنې او وکالت په څېر پر ځانګړو مواردو کار وکړي؛ او

---

[9] حوریه مصدق، برتانیا، ۲۷ جولای ۲۰۲۲

[10] رؤوف مدقق، جرمني، ۱۱ اګست ۲۰۲۲

د جلاوطنه نادولتي‌مؤسسو دې مواردو ته بسپنه‌ورکوونکي چندان زړه نه ښه کوي چې پیسې ورکړي – هغوی هغو غیردولتي‌مؤسسو سره ډېره لېوالتیا لري چې لا هم په افغانستان کې فعالیت کوي. دوی باور لري چې جلاوطنه غیردولتي‌مؤسسې د هېواد سره بې‌ربطه دي او د بشري‌حقونو افغان مدافعین نشي کولای چې له لېرې د بشري‌حقونو جنایات وڅاري او ثبت یې کړي او تر ټولو مهم دا چې په جلاوطنۍ کې نشي کولای په هېواد کې له بېلابېلو پلټفارمونو په استفادې سره د بدلون غږ پورته کړي.

نو په پایله کې د تمویل نه شتون د هغو بشري‌حقونو افغان مدافعینو لپاره تر ټولو ستره ننګونه ده چې غواړي بیاځلي خپلې هڅې پیل کړي. د بېلګې په توګه هشت‌صبح رسنۍ رئیس سنجر سهیل پر دې باور دی چې افغانستان اوس د ځینو هېوادونو او نهادونو لپاره کم لومړیتوب لري او کابو ټولو له پامه غورځولی دی، چې دې وضعیت له هغوی د تمویل مسئله ستونزمنه کړې ده. هغه یادونه وکړه چې په جلاوطنۍ کې د غیردولتي‌مؤسسو چلول تمویل غواړي. هغه دا هم وویل چې د امکاناتو نه شتون پدې مانا دی چې دوی د اړین کیفیت کارونه نشي کولای.[11] فرشته کریم وایي، «موږ غواړو چې خپله نادولتي‌مؤسسه په برېتانیا کې ثبت کړو خو موږ ددې کار لپاره کافي پیسې نه لرو، نو ځکه موږ له وړیا خیریه ادارو غوښتي چې دوی سره په برېتانیا کې د مؤسسې په ثبت کې مرسته وکړي»[12]. دا روښانه نه ده چې وړیا خیریه نهادونه به تر کومه حده د مؤسسو د بیاپیلیدو په برخه کې مرسته وکړي. او که هغوی د بیاپیلیدو په برخه کې همکاري هم وکړي، پوښتنه دا ده چې د پایداره نهاد په حیث د نادولتي‌مؤسسو فعالیت به څرنګه کېږي.

## ۱.۲.۲ – لوړ لګښتونه

په هغو هېوادونو کې چې د بشري‌حقونو مدافعین پکې اوس مېشت شوي، د افغانستان په پرتله یې د کارګرو او ژوند لګښت ډېر لوړ دی. دې کار د نادولتي‌مؤسسو د رئیسانو لپاره ستونزمنه کړې چې په جلاوطنۍ کې کارمندان وساتي. دا چې غیردولتي‌مؤسسې د بشري‌حقونو مدافعینو د ملاتړ مالي امکانات نه لري، مدافعین مجبور دي چې د پایښت لپاره کاري زمینه تبدیله کړي. عبدالله احمدي وایي: «موږ باید لږترلږه د خپلو کارمندانو ساتلو امکانات ولرو»[13]. خو په بهرنیو هېوادونو لوړو لګښتونو ته په کتو، ځینې رئیسان هڅه کوي چې د ظرفیت ډېرولو لپاره د افغانستان دننه خپل کارمندان وګماري. په جلاوطنۍ کې د کارمندانو ګمارلو په اړه فرشته کریمي وایي:

---

[11] سنجر سهیل، کانادا، ۲۶ جولای ۲۰۲۲
[12] فرشته کریم، برتانیا، ۲۵ اګست ۲۰۲۲
[13] عبدالله احمدي، فرانسه، ۲۲ جولای ۲۰۲۲

*«کله مو چې په افغانستان کې یو کس ګماره، لګښت به یې ډېر لږ ؤ، خو که موږ غواړو چې په برېتانیا کې یو کس وګمارو، چې د بسپنې راټولولو په برخه کې تخنیکي وړتیا ولري، [د هغوی] تنخوا باید لږترلږه ۲۵۰۰ پاونده وي، چې دا یوه جدي ننګونه ده»*[14].

لدې وراخوا که هغوی و نه توانېږي چې مثلاً په برېتانیا کې د بسپنه‌راټولونې او اداري پراختیا مشاورین وګماري، دوی د بدیلې لارې په توګه نشي کولای چې د هېواد په داخل کې د همدې کار لپاره څوک وګماري (که په افغانستان کې دفتر ولري)، ځکه هغوی مثلاً د برېتانیا پر ننګونو نه پوهېږي. دا ټول په جلاوطنۍ کې د غیردولتي‌مؤسسو پر بیاجوړولو رسا او منفي اغېز لري.

شهربانو حیدري بیا جلا کیسه درلوده. دا چې د مهاجرینو لخوا چلېدونکې نادولتي‌مؤسسې کافي ملاتړ نه لري، هغه مجبوره شوه چې خپله نادولتي‌مؤسسه د مؤسسې پر ځای د یو انجمن/ټولنې په بڼه ثبت کړي. هغه وایي، «دا چې موږ مهاجر یو او د نورو اروپایي هېوادونو پر ځای د ایټالیا سیستم لږ ملاتړ ورکوي ... د بشري‌حقونو فعالیتونو د ادامې یوازینۍ لاره د ټولنې/انجمن جوړول وو»[15]. د ټولنې/انجمن په بڼه ثبتول پدې مانا چې د اداري/مؤسسې او د راتلونکو بالقوه پروژو د لوړو مالیاتو څخه به معافیت ولري. خو دا چې د اداري/مؤسسې په پرتله د ټولنې/انجمن کاري ساحه توپیر لري، دا به ددوی مداخلوي چارې ډېرې محدودې کړي.

## ۱.۲.۳ – د بانکي حسابونو پرانستل

په ځینو هېوادونو کې د بیروکراتیکو خنډونو له امله د بشري‌حقونو مدافعینو لخوا د نادولتي‌مؤسسو لپاره د بانکي حسابونو پرانستنه یوه عمومي ننګونه ده. د بېلګې په توګه د سویټزرلنډ په جینیوا کې د غیردولتي‌مؤسسې ثبتول ډېر اسانه دي، خو هماغې مؤسسې لپاره د بانکي حساب پرانستنه اسانه نه ده. دا چې غیردولتي‌مؤسسې پر تمویل تکیه وي، نو که بانکي حساب ورته نشي جوړولای، نو هغوی بیا مؤسسې هم نشي جوړولای او نه یې فعالیت کولای شي. که په نورو برخو کې ستونزه هم و نه لري، دوی چې هر څه کوي، پر هغو پیسو به تکیه وي چې له بسپنه‌ورکوونکو یې ترلاسه کوي.

بله لاینحله موضوع دا ده چې که یوه غیردولتي‌مؤسسه وغواړي چې په یو هېواد کې حساب پرانیزي، او کارمندان یې په نورو هېوادونو کې وي، نو دوی فکر کوي چې د کارمندانو پر معاشاتو به یې دوه‌ځلي فیس یا مالیات راځي؛ یوځل په هغه هېواد کې چې غیردولتي‌مؤسسه پکې ثبت ده او بل‌ځل په هغه هېواد کې چې کارمندان پکې معاش ترلاسه کوي. دا یو له هغه دلایلو دی چې د بشري‌حقونو مدافعین یې په نویو هېوادونو کې د نادولتي‌مؤسسو

---

[14] فرشته کریمي، برتانیا، ۲۵ اګست ۲۰۲۲

[15] شهربانو حیدري، ایټالیا، ۳ اګست ۲۰۲۲

ثبت ته زړه‌نازړه کړي دي – ځکه دوی د هغو مالیاتو په اړه دقیقاً نه پوهېږي چې د مؤسسې حساب په یو هېواد کې وي او د کارمندانو شخصي حسابونه په نورو هېوادونو کې وي.

## ۱.۳ – تخنیکي وړتیا

دا برخه د هغو تخنیکي ننګونو یادونه کوي چې د بشري‌حقونو مدافعین ورسره په جلاوطنۍ کې خپلو فعالیتونو بیاپیلولو په برخه کې مخ دي. دا ننګونې یو څه د هغوی د شخصي حالاتو له امله دي او یو څه د کوربه هېوادونو د بیروکراتیک او حقوقي حالاتو له وجې دي.

### ۱.۳.۱ – د حقوقي سیستم پېچلتیا

ددې لپاره چې د بشري‌حقونو مدافعین په یو نوي هېواد کې خپله غیردولتي‌مؤسسه بیاجوړه کړي، دوی باید د هغه هېواد د حقوقي سیستم سره ځان بلد کړي. خو د هغو بشري‌حقونومدافعانو سره چې مرکې وشوې، کابو ټولو ته غیردولتي‌مؤسسو اړوند د کوربه هېواد پر حقوقي سیستم بلدتیا یوه ننګونه وه. په دې اړه عزیز رفیعي وایي:

*«زموږ تر ټولو لویه ستونزه حقوقي ستونزه ده؛ موږ لا تر اوسه په قوانینو نه پوهېږو چې دولت ته د څه شي ګزارش ورکړو او که نه. فدرال قوانین له ایالتي قوانینو ډېر توپیر لري. مثلاً د بورډ جوړښت او د سکرتریت سره یې اړیکه په دوه قوانینو کې توپیر لري... موږ په کاناډا کې د کار پر معیارونو نه پوهېږو، او موږ هغه مالومات هم نه لرو چې د قوانینو په اړه یې باید ولرو او یا په کاناډا کې دا څنګه کار کوي»*[16].

لدې وراخوا، کله چې د بشري‌حقونو مدافعین په جلاوطنۍ کې د خپلو غیردولتي‌مؤسسو د بیاجوړولو تکل کوي، او غواړي چې د کوربه‌هېواد په اړه پوه شي، دوی له سترو حجمي قوانینو او مقرراتو سره مخ کېږي. د کاناډا په څېر په ځینو هېوادونو کې دواړه ملي او ایالتي قوانینو د بشري‌حقونو مدافعینو کار کول ستونزمن کړي دی او ډېر زیات ډولونه قوانین او مقررات یې ورته وړاندې کړي دي. د افغان مېرمنو خبرونو ایجنسۍ رئیسه، حمیرا ثاقب وایي: «کله چې وېبپاڼې ته سر ورښکاره کړې، له زښته ډېرو مالوماتو سره مخ کېږې»[17]. چې پرې پوهېدل ډېر وخت نیسي او ډېری وخت پرې هېڅ هم نشي کولای.

په ځینو غیرانګلیسي ژبو هېوادونو کې بله ستونزه دا ده چې په انګلیسي ژبه د قوانینو موندل یو ستونزمن کار دی، چې دا د بشري‌حقونو مدافعانو لپاره غبرګه ننګونه ده. شهربانو حیدري ایټالیا د بېلګې په توګه یادوي. هغه

---

[16] عزیز رفیعي، کاناډا، ۲۳ جولای ۲۰۲۲

[17] حمیرا ثاقب، کاناډا، ۲ اګست ۲۰۲۲

وايي چې په انګليسي د اسنادو موندل ستونزمن دي او په ايټاليا کې د هغې لپاره دا ننګونه «يوه جدي ستونزه ده»[18].

## ۱.۳.۲ – د کار پيل

د بشري‌حقونو هغه مدافعين چې د خپلو غيردولتي‌مؤسسو د بياتأسيس لومړنۍ چارې يې بشپړې کړي دي، اوس پدې کې نښتي دي چې څنګه او له کومه ځايه خپل کارونه پيل کړي. هغوی ناتوانه ښکاري او داسې يو چا ته اړتيا لري چې له لاسه يې ونيسي او د کار پيل وروښيي. نو ځکه د کار پيل لپاره د يو مشاور يا متخصص مرستې ته اړتيا لري. محمد رحيم جامي وايي، «موږ له يو نيم کال نيولې تر دوه‌کالو پورې ته اړتيا لرو چې پر قوانينو او مقرراتو پوه شو، نو ځکه موږ يو حقوقي مشاور ته اړتيا لرو چې د اسنادو په برخه کې راسره مرسته وکړي، که څه هم پوهېږو چې د مشاور ګمارنه ډېره قيمته ده»[19]. د بشري‌حقونو مدافعين باورمند دي چې د حقوقي مشاور په شتون کې کولای شي چې د غيردولتي‌مؤسسې ثبتول به ورته ډېر اسان وي، ځکه په ګڼو پړاوونو کې ورسره مرسته کولای شي.

له حقوقي مشاور پرته هغوی يو تخنيکي مشاور او د بسپنه‌راټولونې مشاور ته هم اړتيا لري، ځکه دوی هر څه له صفره پيلوي. مثلاً عبدالله احمدي وايي چې دوی يو مشاور ته «جدي» اړتيا لري ځکه د بشري‌حقونو مدافعينو لپاره اوس ټولنيز چاپېريال، کاري ساحه او د کار بڼه ټول بدل شوي دي. هغه زياتوي چې ټول هغه مېکانيزمونه او ستراتيژۍ اوس بدل شوي دي چې دوی په افغانستان کې کارول. نو ځکه اوس دوی يو مشاور ته اړتيا لري چې يا مشوره ورکړي او يا ددوی د همکارانو ظرفيت لوړ کړي[20]. همدارنګه عزيز رفيعي وايي، «موږ په عاجله توګه يو حقوقي مشاور ته اړتيا لرو، يو داسې مشاور چې د دفترونو ترمنځ د خپلمنځي اړيکو تنظيم ستراتيژۍ راجوړه کړي او يو د بسپنه‌راټولونې مشاور ته اړتيا لرو»[21]. مسلکي متخصصينو ته يې اشاره وه چې د فعاليتونو لپاره يې د ستراتيژيک پلان په جوړولو کې عاجله او اساسي مرسته وکړي.

په جلاوطنۍ کې د غيردولتي مؤسسو بله مسئله دا وه چې يوازې په افغانستان د تمرکز له امله خپله مؤسسه نشي ثبتولای. دا د کوربه‌هېوادونو يوه غوښتنه ده او د بشري‌حقونو مدافعان بايد خپل ځانونه د نړيوالو غيردولتي‌مؤسسو

18 شهربانو حيدري، ايټاليا، ۳ اګست ۲۰۲۲

19 محمد رحيم جامي، کاناډا، ۲۳ جولای ۲۰۲۲

20 عبدالله احمدي، فرانسه، ۲۲ جولای ۲۰۲۲

21 عزيز رفيعي، کاناډا، ۲۳ جولای ۲۰۲۲

په بنه عیار کړي، چې دا پخپله په جلاوطنۍ کې د نوي غیردولتي‌مؤسسې جوړول پېچلې کوي. عزیز رفیعي ددې ستونزې پخلی کوي او زیاتوي چې، «موږ [مشاورینو] ته اړتیا لرو چې د نړیوالې اداري په بنه مخته ولاړ شو»[22].

د بشري‌حقونو مدافعینو لپاره په جلاوطنۍ کې کار کول پخپله یوه نوې او پېچلې تجربه ده؛ کله چې دوی پر هغه هېوادونو تمرکز وکړي چې په اړه یې ډېره لږه پوهه او شناخت لري، لدې یوه جدي ننګونه جوړېږي. حتی که له دوی سره مشاورین هم وي، د کار پیلولول یو څه ستونزمن ښکاري؛ خو په هغه صورت کې دا ستونزه اوارېږي چې نړیواله‌غیردولتي‌مؤسسه مستقیماً ددوی برخه چارې تر هغه پرخپله غاړه واخلي تر څو یې دوی د ترسره کولو جوګه شي.

## ۱.۳.۳ – بیوروکراسي

د بشري‌حقونو مدافعینو لپاره په جلاوطنۍ کې د غیردولتي‌مؤسسو د ثبت بیروکراتیک بهیر په هر هېواد کې توپیر لري. مثلاً د بشري‌حقونو هغه مدافعین چې په کاناډا، ایټالیا، متحده ایالاتو او برېتانیا کې اوسېدل، د غیردولتي‌مؤسسو د ثبت له اوږده بیروکراتیک بهیره شکایت کاوه. خو په فرانسه او سویډن کې بیا دا بیرواکراتیک بهیر دومره پېچلی نه دی او د بشري‌حقونو مدافعین په اسانۍ سره خپله غیردولتي‌مؤسسه ثبتولای شي. د ماري اکرمي لپاره چې په متحده ایالاتو کې اوسېږي، د خپلې غیردولتي‌مؤسسې ثبتول تر ټولو لویه ننګونه وه او په مرکه که یې بیا بیا د یو خنډ په توګه یادوله. هغې د ثبت بهیر د ۲۰۲۲ کال په فبروري کې پیل کړی ؤ خو لا نه وه توانېدلې چې د ۲۰۲۲ کال تر اګسته ددې مرکې ترسره کولو پورې خپله مؤسسه ثبت کړي – که څه هم یو امریکایي نهاد دا تمویل کړې وه ځکه د غیردولتي‌مؤسسې د ثبت لپاره دا یو شرط دی. ویل یې، «دلته ډېره زیاته کاغذپراني ده»[23]، او د ثبت د بهیر په اړه یې خپله مایوسي څرګنده کړه. برېتانیا مېشتې فرشتې کریم هم د ثبت بهیر په اړه خپله مایوسي څرګنده کړه او ویې ویل چې دا بهیر «اوږد او وخت‌نیوونکی»[24] دی – ځکه پدې برخه کې څلور پنځه میاشتې په ستونزه کې وه. کاناډا مېشتي محمد رحیم جامي هم وویل چې د پېچلي سیستم او شاخصونو له امله و نه توانېد چې د کاناډا دولت شرطونه پوره کړي.[25]

---

[22] عزیز رفیعي، کاناډا، ۲۳ جولای ۲۰۲۲
[23] ماري اکرمي، متحده ایالات، ۲۷ اګست ۲۰۲۲
[24] فرشته کریم، برتانیا، ۲۵ اګست ۲۰۲۲
[25] محمد رحیم جامي، کاناډا، ۲۳ جولای ۲۰۲۲

## ۱.۳.۴ – بسپنه‌راټولونه

د بسپنه‌راټولونې په مورد کې غیردولتي‌مؤسسې د بنسټونو یا نورو ټولنو سره توپیر لري، ځکه دوی د بسپنه‌ورکوونکو پر تمویل تکیه دي. که څه هم بسپنه‌راټولونه په افغانستان کې هم د بشري‌حقونو مدافعینو لپاره یوه همېشنۍ ننګونه وه، خو دا چې په هېواد کې یې کلونه کلونه د بېلابېلو بسپنه‌ورکوونکو سره د کار تجربه درلوده، لږترلږه د بسپنه‌راټولونې په ځینو طریقو بلد شوي وو. داسې غیردولتي‌مؤسسې هم وې چې څو کاله یې اساسي تمویل ترلاسه کاوه. خو له هغه وخته چې د بشري‌حقونو مدافعین په نور هېوادونو کې مېشت شوي دي، بسپنه‌راټولونه هم پر یوه لویه ننګونه اوښتې ده – ځکه پخواني بسپنه‌ورکوونکي یې نور ددوی ملاتړ نه کوي او دوی نه پوهېږي چې څرنګه د نویو بسپنه‌ورکوونکو نهادونو سره ځانونه اشنا کړي. د بشري‌حقونو ځینو مدافعینو وویل چې خپلو پخوانیو بسپنه‌ورکوونکو سره یې اړیکې ونیولې خو د تمویل په ترلاسه کولو کې ځکه بریالي نشول چې د هغوی پروګرامونه، شاخصونه او حالات بدل شوي دي.

فرشته کریم د خپلې غیردولتي‌مؤسسې د بسپنه‌راټولونې ظرفیت نه‌شتون ته اشارې وایي:

*«د افغانستان له سقوط وروسته موږ نه پیسې درلودې او نه مو د پیسو راټولولو مهارتونه. موږ د بسپنه‌ورکوونکو سره ثبت نه وو، او موږ د یو ټیم په حیث د بسپنه راټولونې مهارتونه پیاوړي کړي نه وو، چې دا یوه ډېره جدي ستونزه وه.»*[26]

هغې زیاته کړه چې مؤسسې یې یو شمېر نهادونو سره د بسپنې په نیت اړیکه نیولې، خو احساسوي چې: «بسپنه‌راټولونه شبکې ته اړتیا لري، چې موږ په کابل کې درلوده، خو اوس داسې احساسوو چې په بېلابېلو نهادونو کې ډېر خلک نه پېژنو»[27]. هغه باورمنده ده چې له مهارتونو او په نړیوالو نهادونو کې د خلکو له پېژندو پرته بسپنه‌راټولونه ستونزمنه ده.

## ۱.۳.۵ – مسلکي تطابق

په ځینو هېوادونو کې د بشري‌حقونو مدافعین هغه غیردولتي‌مؤسسې نشي ثبتولای چې تمرکز یې یوازې پر افغانستان وي، نو داسې نړیواله‌غیردولتي‌مؤسسه باید جوړه کړي چې پر ګڼو هېوادونو تمرکز وکړي. دې شرط هغوی په سخت ځای کې راګیر کړي او ننګونې یې ورغبرګې کړي دي. دا پدې مانا ده چې دوی باید خپله

---

[26] فرشته کریم، برتانیا، ۲۵ اګست ۲۰۲۲

[27] فرشته کریم، برتانیا، ۲۵ اګست ۲۰۲۲

غیردولتيمؤسسه له سره او صفره راپیل کړي. پدې لاره کې ورته د نهاد ستراتیژۍ جوړولو، د بېلابېلو پالیسیو جوړولو، او د مؤسسې نوم، شهرت، لیدلوری او اهداف بدلولو ننګونې پرتې دي. دې ګڼو ستونزو ته په کتو د غیردولتيمؤسسو بیاجوړونه یوه ستونزمنه او وختنیوونکې پروسه ده. لکه حمیرا ثاقب چې وايي، «باور وکړئ، موږ کابو یوه میاشت د خپلې غیردولتيمؤسسې د نامه پسې سرګردانه وو»[28]، چې دا د ګڼو ننګونو څخه یوه ننګونه ده.

د بشريحقونو مدافعین که غواړي په افغانستان کې دننه یو دفتر ولري، باید د اوسنیو واکمنو شرایط هم په نظر کې ونیسي. پدې اړه عبدالله احمدي وايي چې هغوی د خپلې مؤسسې څخه د «ولسواکۍ» نوم لرې کولو لپاره ګڼ بحثونه درلودل، ځکه له هغوی غوښتل شوي وو چې د مؤسسې له نامه یې دا ټکی لرې کړي. د هغوی د مؤسسې یوه دنده په افغانستان کې د ولسواکۍجوړول وو او دوی غوښتل چې د خپلې مؤسسې دې برخې ته هم ادامه ورکړي، خو د افغانستان اوسنیو واکمنو ترې وغوښتل چې د مؤسسې له نامه دا ټکی لرې کړي – دې کار سره د مؤسسې غړي هم حیران وو چې څرنګه یې ترې لرې کړي، او که پر ځای یې داسې ټکی وکاروي چې ددوی د کاري ساحې تر پوښښ لاندې وي.

فرشته کریم وايي چې د مسلکي تطابق ننګونه یوازې تر نامه یا تخنیکي ننګونو پورې محدوده نه ده، بلکې دا د فرهنګ پېژندلو او په کاري چاپېریال او کاري دایره کې د داخلېدلو اوږدمهالی بهیر دی. د بشريحقونو مدافعین باید خپله هم ډېرې پوښتنې ځواب کړي، مثلاً غیردولتيمؤسسې به یې څرنګه خپلې پروژې تمویلوي، بسپنه به له کومه ځایه ترلاسه کوي، او څرنګه به یې چلوي. هغه د نوي کاري کلتور سره د بلدېدو او هغې کې د تطابق بهیر وختنیوونکی او ستونزمن ګڼي چې دا پخپله د غیردولتيمؤسسې چټکه بیاجوړونه ستونزمنوي.[29]

---

28 حمیرا ثاقب، کاناډا، ۲ اګست ۲۰۲۲

29 فرشته کریم، برتانیا، ۲۵ اګست ۲۰۲۲

## ۲ – د بیاجوړونې فرصتونه

دا برخه د بشري‌حقونو افغان‌مدافعینو لخوا په جلاوطنۍ کې د خپلو غیردولتي‌مؤسسو د بیاجوړولو پر ممکنه فرصتونو تمرکز کوي.

### ۲.۱ – په جلاوطنۍ کې د بشري‌حقونو افغان‌مدافعینو انګېزه او ژمنتیا

د بشري‌حقونو افغان‌فعالانو لپاره د افغانستان بشري‌حقونو موضوع ډېره اهمیت لري، په تېره بیا پداسې بحراني وخت چې د ډېری خلکو او په ځانګړې توګه د مېرمنو او نجونو حقوق د اوسنیو واکمنانو لخوا تر پښو لاندې شوي دي. عزیز رفیعي وایي، «افغانان ددې سزا مستحق نه دي»[30]، د بشري‌حقونو ټولو افغان فعالانو احساساتو ته په اشارې چې د خپلو خلکو د حقونو ترپښو لاندې کېدو پر وخت غلي پاتې کېدای نشي. نه یوازې دا چې دوی د افغانانو د بشري‌حقونو لپاره د غږ پورته کولو انګېزه لري، بلکې دوی وایي چې دا ددوی دنده ده چې دا کار وکړي، او دې کار ته ژمن هم دي. په جلاوطنۍ د بشري‌حقونو مدافعینو ترمنځ دا ډول روحیه او ژمنتیا په جلاوطنۍ کې د بشري‌حقونو د کار لپاره یوه ګټه او فرصت دی.

### ۲.۲ – د نړیوالو غیردولتي‌مؤسسو ملاتړ

د بشري‌حقونو ځینې مدافعین باور لري چې نړیوالې‌غیردولتي‌مؤسسې او بسپنه‌ورکوونکي نهادونه ورسره په جلاوطنۍ کې د مؤسسو په بیاتأسیسولو کې مرسته کولای شي. ځینې تمویلوونکې نهادونه یوه ځانګړې بودیجه لري چې د بشري‌حقونو مدافعین پرې کولای شي یوه غیردولتي‌مؤسسه بیاجوړه کړي، ثبت یې کړي، د مؤسسې د رول او ستراتیژۍ د بیاتدوین لپاره مشاور وګماري، او د بیاکارپیل لپاره د اړینو اسنادو د نوي کولو په اړه مسلکي مشورې ورکړي. د بشري‌حقونو ځینې مدافعین د ځینو نړیوالو غیردولتي‌مؤسسو لکه (Front Line Defenders) او (OMCT) د افغانستان پروګرامونو سره په انفرادي توګه او عموماً نیمه‌ورځ کار کوي.

ځینې نهادونه د بشري‌حقونو مدافعین د فیلوشیپ پروګرامونو له لارې د بشري‌حقونو په چارو کې ښکېل ساتي. د بېلګې په توګه، (Sida) د بشري‌حقونو مدافعین په راول‌ولنبرګ‌انسټیټیوټ کې د فیلوشپ پروګرامونو له لارې تمویلوي. (Sida) په افغانستان کې د بشري‌حقونو لپاره په راول‌ولنبرګ‌انسټیټیوټ کې د مېلمه‌پروفیسور په حیث دندې رامنځته کولو له لارې د ملګرو ملتونو د ځانګړې راپورتار ریچارډ بېنېټ او د هغه د درې مرستیالانو او د بشري‌حقونو افغان مدافعینو ملاتړ هم کوي. خو لدې سره سره د بشري‌حقونو ډېری افغان مدافعین د خپلو ځانونو لپاره او یا یې په جلاوطنۍ کې د غیردولتي‌مؤسسو لپاره له نړیوالو غیردولتي‌مؤسسو څخه د کوم اوږدمهاله ملاتړ

30 عزیز رفیعي، کاناډا، ۲۳ جولای ۲۰۲۲

لیدلوری، ستراتیژي یا ژمنتیا نهویني – نو ځکه چې ترې کله وپوښتل شول، د نورو فرصتونو یادونه یې و نه کړای شوه. دوی اندېښمن دي چې ښایي د بشري‌حقونو په چارو کې د ښکېل پاتې کېدا وړتیا ونلري او ډاريږي چې که په نورو چارو کې ښکېل شي، د بشري‌حقونو اړوند تجربې او مهارتونه به له لاسه ورکړي.

# ۳ – کاري ننګونې

دا برخه هغو ننګونو ته اشاره کوي چې کله په جلاوطنۍ کې د بشري‌حقونو مدافعین د خپلو غیردولتي‌مؤسسو اصلي کارونو د پیل پر وخت ورسره مخ کېږي. د (کرلو-پروسس-رېبلو Input.Process.Output) موډل د غیردولتي‌مؤسسو د فعالیتونو بېلابېل پړاوونه ښه روښانولای شي. ځکه یې ننګونې هم پر درې برخو وېشل شوې وې، چې د فعالیتونو بېلابېل مراحل تشریح کوي؛ ۱ – کرل، ۲ – پروسس، او ۳ – رېبل. د کرلو یا دخولي مرحله د بشري او مالي منابعو او امکاناتو ننګونې څېړي. د پروسس برخه د اصلي کار ننګونې راښيي. د رېبلو مرحله بیا د فعالیتونو یا مداخلې پایلې راښيي.

## ۳.۱ – د کرلو (دخولي) ننګونې

دلته د غیردولتي‌مؤسسو بشري او مالي منابعو اړوند ننګونې څېړل کېږي.

### ۳.۱.۱ – د پیسو لېږد

د بشري‌حقونو هغو مدافعینو ته یا هغه غیردولتي‌مؤسسې چې کارمندان یې لا په افغانستان کې دي، له بهره د پیسو لېږد یوه ستره ننګونه ده، ځکه د افغانستان بانکونه یا تحریم شوي دي او یا هم د اوسنیو واکمنانو تر کنترول لاندې دي. ځکه خو د بشري‌حقونو ځینې مدافعین د حوالې سیستم کاروي – د حوالې سیستم یا غیررسمي سیستم چې د صرافانو شبکې پر مټ د ځانګړي کمیشن په لګښت افغانستان ته استول کېږي، چې د بشري‌حقونو مدافعینو لپاره لړ اغېزناک سیستم دی.

د بېلګې په توګه د بشري‌حقونو لپاره او د تاوتریخوالي ختمولو نهاد رئیس ودود پیمان وایي، «موږ په افغانستان کې پروژو ته مستقیماً پیسې لېږلی نه‌شو. پیسې باید دلته راشي، خو پدې نه پوهېږو چې په ورپسې ګام کې یې افغانستان ته څنګه ولېږو»[31]. محمد رحیم جامي دې ستونزې ته له بلې زاویې ګوري او وایي چې اول خو افغانستان

[31] ودود پدرام، کاناډا، ۲۳ جولای ۲۰۲۲

ته پیسې لېږلای نشي، او دوېم دا چې که افغانستان ته ولېږل شي هم، کاناډایي چارواکو ته به په افغانستان کې د لګول شویو پیسو ګزارش ځرنګه ورکوي.[32]

ځینې غیردولتيمؤسسې لکه عزیز رفیعي یې چې رئیس دی، نظر درلود چې دوه بورډونه تشکیل شي، یو په کابل کې او بل په کاناډا کې او د دواړو ترمنځ داسې هوکړهلیک لاسلیک شي چې نوموړې مؤسسه د افغانستان او کاناډا ترمنځ پیسې ولېږلای شي. دوی همدا حللاره بولي، ځکه د هغه په نظر لدې پرته غیردولتيمؤسسې په کاناډا کې راټولې شوې پیسې بهر ته استولای نشي.

په جلاوطنۍ کې د غیردولتيمؤسسو بله ننګونه جلاوطنه کارمندانو ته د معاشاتو استول دي. دا په ځانګړې ډول د اروپامېشته بشريحقونو مدافعینو مسئله ده چې په لنډمهاله پروژو کار کوي. ځکه د بشريحقونو هغه مدافعین چې ګمارل شوي نه دي، له دولته د سوسیال مالي ملاتړ ترلاسه کوي. که دوی په پروژو کې ښکېل شي، نو سوسیال مرستې به یې ودرېږي – دا ځکه ستونزمنه ده چې دا پروژې لنډمهالې دي او له امله به یې د سوسیال مرستې ټکنۍ شي. کله چې پروژه ختمه شي، بیا به د چارواکو سره د سوسیال مرستو وختنیوونکې کیسه بیا پیلوي.

## ۳.۱.۲ – بسپنهورکوونکي او د غیردولتيمؤسسو حالت

ددې لپاره د غیردولتيمؤسسو په حیث نهادونه ثبت او په جلاوطنۍ کې کار وکړي، د بشريحقونو مدافعین د بسپنهورکوونکو او مشارکتيادارو ملاتړ او په تېره بیا مالي ملاتړ ته اړتیا لري. خو د بشريحقونو مدافعینو سره له خبرو جوته شوه چې نړیوالېغیردولتيمؤسسې او تمویلوونکينهادونه د تعلیق په حالت کې دي او په جلاوطنۍ کې د بشريحقونو مدافعینو په اړه یې د افغانستان ستراتیژي لا جوړه کړې نه ده. مثلاً ودود پدرام په افغانستان کې د بشريحقونو وضعیت په اړه د نړیوالو غیردولتيمؤسسو د بېتصمیمۍ په اړه وایي، «که ریښتیا ووایم، موږ نه پوهېږو چې نړیوالې ادارې په افغانستان کې څه کول غواړي»[33].

د بسپنهورکوونکو د وضعیت په اړه عبدالله احمدي وایي، «ډیری بسپنهورکوونکي هم سربداله دي، مشخص پروګرامونه نه لري، ډیری پروګرامونه یې په افغانستان کې نیمایي پلي شوي دي، دوی باید خپل پروګرامونه بیاځلي تعریف کړي ځینې یې بشردوستانه برخو ته مخه کړې ده.»[34] داسې ښکاري چې د بشريحقونو ځینې افغان

---

32 محمد رحیم جامي، کاناډا، ۲۷ جولای ۲۰۲۲
33 ودود پدرام، کاناډا، ۲۳ جولای ۲۰۲۲
34 عبدالله احمدي، فرانسه، ۲۲ جولای ۲۰۲۲

مدافعین نړیوالو غیردولتيمؤسسو ته په تمه دي چې د افغانستان په اړه خپل پروګرامونه بیاځلي تعریف کړي ترڅو دوی ورسره خپلې غیردولتيمؤسسې هماغسې عیارې کړي. لکه رحیم جامي چې وایي، «موږ نړیوالو غیردولتيمؤسسو ته منتظر یو چې د افغانستان په اړه خپلې ستراتیژۍ تعریف کړي او بیا موږ هغوی ته رجوع کوو»[35]. هغه زیاتوي، «زموږ کار پدې پورې اړه لري چې آیا موږ هومره امکانات موندلای شو چې په افغانستان کې پرې د حالاتو مطابق کار وکړای شو او تر هغه حده چې نهادونه او هېوادونه د بشريحقونو ارزښتونو ته ژمن دي»[36]. ورپسې وایي چې د یو څه بشردوستانه او خیریه پرورګرامونو په استثناء، تر اوسه هر څه په ځنډېدلي حالت کې دي.[37]

له بله پلوه ځینې فعالان پدې باور دي چې په افغانستان کې د بشريحقونو لپاره د غږ پورته کولو مسؤولیت ددوی دی، او پدې پورې اړه نه لري چې نړیوالېغیردولتينهادونه یا نور دولتونه یې ملاتړ کوي او که نه. د بېلګې په توګه عزیز رفیعي وایي:

*«بشريحقونه د غرب مسؤلیت نه دی، بلکې د افغانانو مسؤولیت دی. افغانان خپلو بشريحقونو ته اړتیا لري، دوی حق لري چې د انسانانو په څېر ژوند وکړي، او د انسانانو په حیث د بشري ټولنې غړي واوسي. دا یو لوی کار دی چې ټول افغان سیاسي او ټولنیز مشران یې باید ترسره کړي. بشري حقونه د غرب نوښت نه دی، بلکې دا د انسانانو د ملیونونه کاله هڅو پایله ده. تاسې دا نشئ ویلای چې په افغانستان کې د بشريحقونو نقض پروا نه لري، خو په متحده ایالاتو کې باید داسې و نه شي. هر انسان باید د بشريحقونو د موضوع په اړه احساس ولري او دې ارزښت ته ژمن واوسي.»* [38]

هغه د بشريحقونو افغان مدافعینو مسؤولیت ته اشاره کوي چې دوی باید د نړیوالوغیردولتيمؤسسو یا بسپنهورکوونکو ملاتړ ته منتظر و نه اوسي بلکې باید پخپله په افغانستان کې د بشريحقونو د وضعیت په اړه یو څه وکړي. خو بیا هم دا پوښتنه بېځوابه پاتې کېږي چې د بشريحقونو افغان مدافعین به په جلاوطنۍ کې له مالي ملاتړ پرته تر کومه حده په افغانستان کې د بشريحقونو لپاره مندېترړې وکړي.

داسې ښکاري چې نړیوالېغیردولتيمؤسسې او بسپنهورکوونکي نهادونه د افغانستانمېشته مؤسسو سره کار ته زړه ښه کوي او د بشريحقونو هغو مؤسسو سره کار ته لېوالتیا نه لري چې له افغانستانه بهر دي. د بشريحقونو جلاوطنه فعالان د نړیوالو غیردولتيمؤسسو او بسپنهورکوونکو نهادونه دا پالیسي د خپل کار لپاره یوه ننګونه بولي.

---

35 محمد رحیم جامي، کاناډا، ۲۷ جولای، ۲۰۲۲
36 محمد رحیم جامي، کاناډا، ۲۷ جولای، ۲۰۲۲
37 محمد رحیم جامي، کاناډا، ۲۷ جولای، ۲۰۲۲
38 عزیز رفیعي، کاناډا، ۲۳ جولای، ۲۰۲۲

تمویلوونکي نهادونه داسې احساسوي چې د بشري‌حقونو جلاوطنه فعالان له زمیني حقایقو لرې دي او نشي کولای چې د افغانستان په وضعیت کې ښکېل واوسي. د دوه پراختیایي ادارو او ځینو نړیوالو غیردولتي‌مؤسسو سره په خبرو کې روښانه شوه چې هغوی د بشري‌حقونو جلاوطنه مدافعینو سره د کار لپاره محتاط وو، او پر دې یې ویاړ کاوه چې په افغانستان کې د مېشته غیردولتي‌مؤسسو سره کار وکړي. د افغانستان په داخل کې د غیردولتي‌مؤسسو سره کار حتمي دی، خو ځینې داسې کارونه شته چې د اوسنیو واکمنانو د سختو مقرراتو له وجې د هېواد له داخله نشي کېدای.

په افغانستان کې دننه خلک او د بشري‌حقونو مدافعین د بشري‌حقونو جلاوطنه مدافعینو په څېر د غږ پورته‌کولو موکه نه لري. جلاوطنه مدافعین په بېلابېلو هېوادونو کې د ګڼو پلټفارمونو پر مټ کولای شي د مدني مسایلو بحثونه دایر کړي او د ملګرو ملتونو د بشري‌حقونو تر شورا خپل غږ ورسوي. همدارنګه پر ځینو غیردولتي‌مؤسسو باندې د اوسنیو واکمنانو د سختو بندیزونو او نفوذ له امله د بشري‌حقونو متضررین د خپلو کیسو شریکولو لپاره پر غیردولتي‌مؤسسو تکیه نشي کولای. هغوی ښایي د بشري‌حقونو پر هغو جلاوطنه مدافعینو ډېر باور وکړای شي چې تر نړیوالو غیردولتي‌نهادونو یې مالومات رسولای شي.

نو دا ډېرې د بشري‌حقونو د جلاوطنه مدافعینو دندې دي: دوی موثق مالومات ترلاسه کولای او ارزولای شي او په اسانۍ سره یې ګڼو ښکېلو غاړو سره شریکولای شي. دوی همدارنګه په افغانستان کې د بشري‌حقونو جنایات څارلای او راپور کولای شي او په جلاوطنۍ کې د هنري پروګرامونو دایرولو له لارې د بشري‌حقونو ناره ژوندۍ ساتلای شي. پر دې سربېره، د بشري‌حقونو جلاوطنه مدافعین د بشري‌حقونو لپاره د غږپورته‌کونې ښه فرصت لري. دوی په اسانۍ او پرانستې ښه له افغانستانه بهر په ناستو او غونډو کې ګډون کولای شي، تر څو پر اوسنیو واکمنانو د فشار له لارې په افغانستان کې د بشري‌حقونو وضعیت ته بدلون ورکړي.

د بشري‌حقونو ځینې مدافعین وایي چې یوناما په افغانستان کې د غیردولتي‌مؤسسو سره کار کولو ته زړه ښه کوي، سره لدې چې د بشري‌حقونو ځینې مدافعین پر دې باور دي چې یوناما په افغانستان کې خپل پروګرامونه د اوسنیو واکمنانو د اجنډاو سره عیاروي، یا د هغو غیردولتي‌مؤسسو سره کار کوي چې پر بشري‌حقونو باور نه لري او تر ډېره پر بشردوستانه مرستو تمرکز کوي. دوی باور لري چې یوناما د خپل کار اسانۍ لپاره د دا ډول غیردولتي‌مؤسسو سره کار ته زړه ښه کوي، ځکه پدې توګه به یوناما له مؤسسو هغه کارونه ترسره‌کول نه غواړي چې د اوسنیو واکمنانو د پالیسیو سره په ټکر کې وي، نو ځکه به یوناما هم په ستونزه کې نه وي.

د بشري‌حقونو دا مدافعین وایي چې غیردولتي‌مؤسسو «په افغانستان کې د همغږۍ بدیله نهادونه جوړ کړي دي او موږ ته وایي چې په افغانستان کې فزیکي شتون نه لرو، او دوی د یوناما سره ناستې کوي، او بیا یوناما پر موږ فشار اچوي»[39]. زیاتوي چې یوناما ددوی پروپوزلونو ته په جدي سترګه نه ګوري. د بشري‌حقونو دا مدافعین زیاتوي:

*«[په افغانستان کې غیردولتي‌مؤسسې] زموږ د بشري‌حقونو پروګرامونو سره همدردي نه لري، او بهانې کوي چې [موږ][هغوی] په خطر کې اچوو. او دا چې هغوی په افغانستان کې امکانات ترلاسه کولای شي او طالبان راضي کوي، هغوی راځي او زموږ اعتبار او مشروعیت تر پوښتنې لاندې راولي. هغوی د ګډې همغږۍ ورته ډله جوړه کړې ده، اعلامیې ورکوي او ځانونه د خلکو استازي بولي، خو په خپلو اعلامیو کې د طالبانو ملاتړ کوي.»*[40]

دوی وایي چې په افغانستان کې د بشري‌حقونو ځینې فعالان او غیردولتي‌مؤسسې له تمویلوونکو نهادونو امکانات ترلاسه کوي، او د اوسنیو واکمنانو سره په اړیکه کې دي، هڅه کوي چې له هېواده بهر د بشري‌حقونو فعالان او غیردولتي‌مؤسسې بې‌اعتباره کړي – او پخپله داسې کارونه وکړي چې بشري‌حقونو سره هېڅ اړخ نه لګوي بلکې د اوسنیو واکمنانو په ګټه تمامېږي. خو بیا هم په جلاوطنۍ کې د بشري‌حقونو فعالان او غیردولتي‌مؤسسې غواړي چې له هېواده بهر یې غږ واورېدل شي او فعالیتونه یې وپېژندل شي، ځکه افغانان او په افغانستان کې بشري‌حقونه ددوی لومړیتوب دی.

## ۳.۱.۳ – خطرونه

داسې ښکاري چې د بشري‌حقونو مدافعینو ته راجع خطرونه دوی کار ته نه پرېږدي، که هغه کار د هېواد دننه وي او که بهر وي. د بشري‌حقونو افغان مدافعین په جلاوطنۍ کې د همدې ستونزو سره مخ دي او له هغو خطرونو څخه لا وېرېږي چې دوی یې تر ګواښ لاندې دي، په تېره بیا ددوی هغه همکاران چې لا په افغانستان کې د اوسنیو واکمنو تر ګواښ لاندې دي. د خطرونو له امله د بشري‌حقونو ځینې مدافعین چې همکاران یې په افغانستان کې په مؤسسو کې کار کوي، لا هم نه دي توانېدلي چې خپله او یا هم د مؤسسې په استازولۍ ځینې فعالیتونه په ښکاره سره ترسره کړي – که نه همکاران به یې په خطر کې ولوېږي. رحیم جامي وویل چې ځینې غیردولتي‌مؤسسو د ځینو پروژو له اخستلو ځکه ډډه وکړه چې په افغانستان کې یې همکاران په خطر کې پرېوتل. البته یوازې ددوی کاري همکاران نه، بلکې د بشري‌حقونو مدافعینو د کورنۍ غړي هم لدې خطر سره مخ دي. په ډېرو مواردو کې دوی ځان سانسوري او څه نه وایي او یا د اوسنیو واکمنانو له وېرې د بشري‌حقونو مدافعینو

---

39 بې‌نومه
40 بې‌نومه

په حیث په ځانګړو ځایونو او ناستو کې ګډون نه کوي. که د بشري‌حقونو مدافعینو دې اندېښنې ته پام و نه شي، ډېری یې ښايي په جلاوطنۍ کې په اړونده ناستو کې ګډون و نه کړي او نه هم ښايي په مانادارە بڼه ښکېل واوسي – حتی که په اړونده ناستو کې ګډون هم وکړي، ښايي خپلې هڅې او کارونه ښکاره نه کړي، چې دا پخپله ددوی د پروګرامونو او فعالیتونو پر مؤثریت منفي اغېز کوي. د بېلګې په توګه ددې خطرونو له امله د بشري‌حقونو ځینې مدافعینو چې خپلې کورنۍ په افغانستان کې پرېښې وې، په جینیوا کې د ملګرو ملتونو د بشري‌حقونو شورا په ۵۰مه او ۵۱مه ناستو کې ګډون او خبرې کړې وې خو په ټولنیزو رسنیو کې یې د خپلو فعالیتونو په اړه څه شریکولای یا ویلای نشول.

## ۳.۲ – د بهیر ننګونې

پدې برخه کې هغه ننګونې یادې شوي دي چې په افغانستان کې دننه یا بهر د غیردولتي‌مؤسسو د فعالیت پر وخت رامنځته کېږي – او د ننګونو هغه ډولونه هم راغلي دي په جلاوطنۍ کې د اصلي فعالیت د پیل پرمهال رامنځته کېږي.

### ۳.۲.۱ – ځان‌سانسوري

د اوسنیو واکمنانو د ګواښونو له امله له افغانستان بهر د بشري‌حقونو فعالان خپلې ځینې چارې سانسوروي، او کله بیا د مستعار نوم لاندې د بشري‌حقونو لپاره د غږپورته‌کونې هڅه کوي. هغوی چې غواړي یو څه وکړي، که له هېواده بهر هم وي، نه غواړي چې په ټولنیزو رسنیو کې فعال واوسي او پدې توګه خپلې کورنۍ او همکاران چې لا په افغانستان کې دي، د ګواښ سره مخ کړي. د بشري‌حقونو ځینې فعالان – د هغوی د نوم یا نهاد د نوم یادولو څخه ډېره کوم – لا هم په افغانستان کې همکاران لري چې په پټه توګه د بشري‌حقونو لپاره کار کوي. هغوی له داسې نومونو څخه استفاده کوي چې د اوسنیو واکمنانو لخوا و نه پېژندل شي. د بشري‌حقونو ځینې مدافعینو وویل چې په افغانستان کې یې همکاران پر خپل اصلي نوم فعالیت نه کوي. ښکاري چې د بشري‌حقونو مدافعینو لپاره د اوسنیو واکمنو ګواښ ډېر جدي دی، چې دوی په جلاوطنۍ کې د پلټفارمونه او فرصتونه لري خو په ښکاره کار نه شي کولای او نه خپلې لاسته‌راوړنې له نورو سره شریکولای شي.

له ځان‌سانسورۍ وراخوا، د شهربانو حیدري قضیه ده چې په ایټالیا کې کار کوي، وايي د بشري‌حقونو مدافعینو د چارو لپاره ازاده او پراخه کاري ساحه نشته – ځکه د ایټالیا حکومت لخوا ورته یو لړ فعالیتونه او موخې ټاکل شوي چې دوی باید پرې کار وکړي. هغې وویل: «د ایټالیا حکومت زموږ ټولنې/انجمن ته یو لړ موخې ټاکلې دي،

او موږ باید له هغو وړاندیز شویو موخو څخه انتخاب وکړو او خپلې چارې د همغو پر اساس عیارې کړو.»[41] چې دا په جلاوطنۍ کې د بشري‌حقونو چارې محدودوي.

## ۳.۲.۲ – د طالبانو فشار

د بشري‌حقونو مدافعین پر دې باور دي چې اوسني واکمنان په افغانستان کې د غیردولتي‌مؤسسو چارو پر مخ جدي خنډونه جوړوي، او د خپل نفوذ پر مټ ددوی د فعالیتونو پر وړاندې ننګونې او ستونزې ایجادوي. د بشري‌حقونو افغان مدافعینو لپاره دا یوه ستره ننګونه وه، ځکه کابو ټولو یې په دې اړه یو څه ویل. یو له هغو وویل: «طالبان د بهرنیو غیردولتي‌مؤسسو په چارو کې لاسوهنه کوي او وایي چې دوی خاصو ولایتونو او خاصو خلکو ته کار کوي»[42] او هڅه کوي چې مرستې یوازې خپلو خواخوږو خلکو ته ورسوي[43]. په هېواد کې دننه او بهر د بشري‌حقونو مدافعینو په بحثونو کې وویل چې طالبان پر غیردولتي‌مؤسسو هم فشار اچوي چې رئیسان یې باید په افغانستان کې وي، او هغه رئیسان باید له مؤسسو وشړي چې په جلاوطنۍ کې وي.

فرشته کریم چې د کوچنیانو د حقونو لپاره کار کوي، او په افغانستان کې ګڼ شمېر ګرځنده کتابتونونه چلوي، د کوچنیانو لپاره د ښوونیزو موادو د ترتیبولو په اړه اندېښنه وښودله. هغې وویل، «ننګونه دا ده چې باید ښوونیز مواد په داسې بڼه ترتیب کړو چې مواد، اغېز او طریقه مو هېڅ فشار رامنځته نه کړي»[44]. هغه د داسې موادو په ترتیب کې له کړاو سره مخ ده چې هم د ساینسي اصولو سره سم وي او په ورته وخت کې د اوسنیو واکمنانو مفکورې او ممکنه غبرګون ته هم پام وکړي.

د بشري‌حقونو مدافعینو له نظره، طالبان هغه غیردولتي‌مؤسسې چې دوی سره هملارې نه دي، په افغانستان کې د بهرني انشعاب او د پیسو د ورکاوۍ په سترګه ګوري، خو په ورته وخت کې طالبان پر دې هم پوهېږي چې هېواد ته ډېرې پیسې د غیردولتي‌مؤسسو له لارې راځي، نو مجبور دي چې دا حالت وزغمي. د بشري‌حقونو مدافعین وایي چې اوسني واکمنان د غیردولتي‌مؤسسو په بندولو کې پاتې راغلي دي، نو ځکه یې داسې تګلارې ته مخه کړې ده چې په هېواد کې د مؤسسو له موجودیت څه د عاید په توګه کار واخلي – د هغه غیردولتي‌مؤسسو ملاتړ کوي چې دوی سره خواخوږي لري، او پخپله هم غیردولتي‌مؤسسې تأسیسوي.[45] ددوی په وینا، طالبان د خپل نفوذ او فشار له لارې په هېواد کې د ملي او نړیوالو بشردوستانه مرستو وېش او مسیر بدلوي، دوی یوازې د مرستو مسیر نه بدلوي بلکې د غیردولتي‌مؤسسو لخوا پیل شوې پروژې او پروګرامونه هم په سیستماتیکه بڼه بدلوي. کله

---

[41] شهربانو، ایټالیا، ۳ اګست ۲۰۲۲

[42] بې‌نومه

[43] بې‌نومه

[44] فرشته کریم، برتانیا، ۲۵ اګست ۲۰۲۲

[45] بې‌نومه

چې طالبان د پروژو یا مرستو د مسیر په بدلون کې پاتې راشي، بیا هغوی له غیردولتيمؤسسو غواړي چې د پروژو لپاره دې کارمندان د طالبانو له صفونو وګماري.

لکه څرنګه چې په ځینو رسنیو کې هم راغلي دي، اوسنیو واکمنانو په ځینو ولایتونو کې له غیردولتيمؤسسو غوښتي چې ددوی له خبرولو پرته هېڅ کارمند و نه ګماري. که دا کار په ټول هېواد کې پلی شي، دا به په افغانستان کې د غیردولتيمؤسسو سکتور د انحصار او طالباني کولو پر خوا یو ګام وي. په تېر نږدې وخت کې ټولې مېرمنې د افغانستان په دولتي دفاترو، ملي او نړیوالو غیردولتيمؤسسو کې له کاره منع شوې، چې دا په هېواد کې د ښځو پر وړاندې د تبعیض یوه ښکاره بېلګه ده.

## ۳.۲.۳ – پایښت

د بشريحقونو مدافعین وېره لري چې دوی د نورو جلاوطنه غیردولتيمؤسسو په څېر چې ددوی غوندې ننګونې او خنډونه نه لري، نور کار ته ادامه ورکولای نشي. د بېلګې په توګه، حوریه مصدق وایي، «هغه نهادونه چې له وړاندې پدې هېوادونو کې کار کوي، هغوی له ډېرو کلونو راهیسې کار کوي او په نوي چاپېریال کې دا تطابق او منل کېدل ډېر وخت ته اړتیا لري چې زموږ لپاره یوه ننګونه ده.»[46] هغه زیاتوي چې زښتډېر وخت ته اړتیا ده چې یوه غیردولتيمؤسسه بیاجوړه کړې، د بسپنهورکوونکو اعتبار ترلاسه کړې او بیا هغوی ته قناعت ورکړې چې په افغانستان کې د بشريحقونو د وضعیت لپاره په جلاوطنۍ کې کار کوي. د مدني ټولنو او بشريحقونو فعالانو شبکې رئیس خلیل رؤوفي وایي، «موږ د پخوانیو باتجربه غیردولتيمؤسسو سره د سیالۍ وړتیا نه لرو»[47]، هغه مني چې د بشريحقونو د ملاتړ لپاره د مشهورې غیردولتيمؤسسې پوړۍ ته رسېدل ستونزمن کار دی – هغه هم چې په جلاوطنۍ کې کار کوې.

په ډېرو مواردو کې، د غیردولتيمؤسسو د پایښت ننګونه د هغوی مخه نیسي چې خپل نهادونه بیاځلي جوړ کړي او په جلاوطنۍ کې د بشريحقونو لپاره کار وکړي – ځکه دوی مطمئن نه دي چې که دوی کار بېرته پیل کړي، په نږدې راتلونکې کې به څه پېښ شي. دا چې دوی مطمئن نه دي چې د اوږدمهالو پروژو لپاره به تمویل ترلاسه کړي، نو دوی هم پخپل کار کې زړهنازړه وي – ځکه د تمویلوونکو نهادونو لخوا د اوږدمهالې همکارۍ کومه ژمنتیا نه لیدل کېږي. له هغې پرته، ځینې داسې تمویلوونکي نهادونه هم شته چې د لنډمهالو پروژو لپاره نوې جوړې شوې مؤسسې تمویلوي، اکثراً ددې لپاره وي چې نوې مؤسسې خپلې چارې بیاراتنظیم کړي – خو د بشريحقونو مدافعینو لخوا دا یو پایښتي او دوامداره حللاره نه ښکاري. دوی دا اندېښنه لري چې د لنډمهاله معاشونو سره

---

46 حوریه مصدق، برتانیا، ۲۷ جولای ۲۰۲۲

47 خلیل رؤوفي، کاناډا، ۳۰ جولای ۲۰۲۲

به د کارمندانو دولتي سوسیال مرسته قطع شي، له لنډمهال وروسته به هغه معاشونه هم ودرېږي، چې بیا کارمندان مجبور دي یا بل کار پسې او یا هم دولتي مرستو پسې سرګردانه وګرځي.

## ۳.۳ – د پایلو ننګونې

دا برخه د موخو د بدلون، د فعالیتونو پر پایلو، او په جلاوطنۍ کې ددې موخو ترلاسه کولو په اړه بحث کوي.

### ۳.۳.۱ – د وجودي بقا پوښتنې

د طالبانو لخوا د افغانستان له سقوط او د دولت او غیردولتي‌مؤسسو له پاشلو او ګڼو هېوادونو ته د بشري‌حقونو مدافعینو بیامېشتېدنې وروسته، د بشري‌حقونو ځینو مدافعینو د یو نهاد په حیث او د بشري‌حقونو د مدافعینو په حیث د وجودي بقا پوښتنې پیل کړي دي.

د چارمغز رئیسه فرشته کریم پر تمویل د خپل نهاد اتکا پوښتي او وایي چې، «دا به خلکو دا ذهنیت ورکړي چې [افغانان] پخپله خپله مرسته نشي کولای او تل باید پر نورو تکیه وي»[48]، چې د هغې په باور دا د یو ملت د ځان‌درناوۍ زیانمنوونکی دی. هغه زیاتوي:

*«د طالبانو له بېرته راتګ وروسته د هر څه په اړه اساسي پوښتنې پیل شوې. موږ باور درلود چې کوچنیان سواد ته اړتیا لري، خو اوس پوښتنه دا ده چې څه ډول سواد ته اړتیا لري. آیا هغه ښوونیز سیستم ته ادامه ورکړو چې زموږ لخوا نه خو زموږ لپاره جوړ شوی ؤ او که موږ د خپل تعلیم فلسفه بدله کړو؟»*[49]

د بشري‌حقونو مدافعین هغه ارزښتونه او د موخو مؤثریت تر پوښتنې لاندې راولي چې څو کاله یې ورته کار کړی دی. دوی حیران دي چې آیا په جلاوطنۍ کې هم هماغه ارزښتونو ته ژمن پاتې شي او که اړتیا ده چې د موخو پر بدلون فکر وکړي – او که غواړي چې تبدیل یې کړي، څه ډول موخې ارزښتناکې او شونې دي. په افغانستان کې دومره ژور بدلون او د سترګو په رپ کې د ټولو ارزښتونو بایللو، او دې حقیقت ته په پام چې ښکاري نړیوالې ټولنې دې په افغانستان کې د بشري‌حقونو او په تېره بیا د مېرمنو او نجونو وضعیت ته شا اړولي وي، د بشري‌حقونو مدافعین د خپل ټول نهاد ارزښتونه تر پوښتنې لاندې راولي. په افغانستان کې د هره ورځ پېښېدونکو منفي پېښو، او پر هېواد او د بشري‌حقونو پر فعالانو د ناهیلۍ څادر غوړېدو ته په کتو، دوی حیران دي چې آیا خپلو چارو ته ادامه ورکړي او که نه، که ور یې کړي نو په کومه بیه او په کومه هیله.

---

[48] فرشته کریم، برتانیا، ۲۵ اګست ۲۰۲۲

[49] فرشته کریم، برتانیا، ۲۵ اګست ۲۰۲۲

## ۳.۳.۲ - د نوې ستراتیژۍ جوړول

په جلاوطنۍ کې د بشري‌حقونو افغان مدافعینو لپاره د نوې ستراتیژۍ یو له سترو ننګونو څخه ده. دا چې د ستراتیژۍ په اړه ګڼ موارد روښانه نه دي، نو د غیردولتي‌مؤسسې د موخو او یا مداخلو د بنې په اړه چټکه پرېکړه نیول هم اسانه نه دي. ډېری فعالان د هغو مسایلو سره لاس او ګرېوان دي چې باید په نوې ستراتیژۍ کې ورته پام وشي، لکه په افغانستان کې د اوسنیو واکمنانو راتلونکی، ددوی په پرواګرامونو کې بدلون، په جلاوطنۍ کې د بشري‌حقونو مدافعینو وضعیت، په جلاوطنۍ کې د بشري‌حقونو مدافعینو په اړه د بسپنه‌ورکوونکو چلند، بسپنو ته لاسرسی، په جلاوطنۍ کې د هغوی د رول په اړه پوهېدل، په کوربه‌هېوادونو کې د قوانینو او مقرراتو په اړه پوهېدل، په جلاوطنۍ کې د بشري‌حقونو اړوند خپلو غیردولتي‌مؤسسو د وړتیا برخې موندل، او د خپلې کاري ساحې په اړه پوهېدلو په څېر مسایل پکې راځي.

پر دې سربېره، د بدلون، جوړښت، نړیوال‌کېدلو، او داسې نورو ډېرو مسایلو په اړه د پوښتنو له امله هغوی د ستراتیژۍ په جوړولو کې شاته پاتې دي. ځینو یې د خپلو مؤسسو کاري ساحه په افغانستان کې تر بشردوستانه مرستو پورې محدوده کړې ده. د اوسنیو واکمنانو په حیث د طالبانو راتلونکی، په جلاوطنۍ کې د بشري‌حقونو مدافعانو وضعیت، او د دولتونو او نړیوالو غیردولتي‌مؤسسو د پالیسیو ګونګوالی د بشري‌حقونو مدافعینو لخوا د نوې ستراتیژۍ جوړولو لپاره د زړه‌نازړه کېدلو اصلي دلایل دي.

دې مسایلو ته په پام ماري اکرمي وایي چې «د نوې ستراتیژۍ جوړول ډېر وخت نیسي، دا هر څه په وخت پورې تړلي دي، لومړی باید موږ دا مشخص کړو چې اوسني واکمنان څه ډول دي، بیا پدې اړه فکر کولای شو چې پر کومو برخو کار اړین دی، په کومو برخو کې اوسني واکمنان له ډېرې سخت‌دریځۍ کار اخلي، په کومو برخو کې هغوی کار کولای شي او په کومو برخو تاسې د هغوی لارې‌چارې بدلولای شئ.»[50]

د ماري اکرمي غیردولتي‌مؤسسې پخوا د سولې، امنیت او مېرمنو حقونو لپاره کار کاوه. اوسني وضعیت ته په کتو، هغه اوس پدې برخو کې کار نشي کولای او د داسې ستراتیژۍ پرېکړه یې کړې چې د پروژو په پلي کولو کې مرسته وکړي. هغه وایي، «موږ یې پر بدلون مجبور کړو، او موږ هغه بدلون راووست چې مېرمنې څنګه کولای شي پروژې پلي کړي، څنګه د اقتصاد وزارت لخوا ومنل شي او څرنګه د تمویل کوونکو لخوا ومنل شي.»[51] ودود پدرام خپلو مخکنیو موخو ته رسېدو په مخ کې دا مسایل یوه ننګونه ګڼي او وایي، «دا یوه جدي ننګونه ده چې خپلو مخکنیو موخو ته کار وکړو، ځکه نړیواله ټولنه اوس ورته لږ پام کوي او اوسني واکمنان پدې شیانو نه پوهېږي.»[52]

---

50 ماري اکرمي، متحده ایالات، ۲۷ اګست ۲۰۲۲

51 ماري اکرمي، متحده ایالات، ۲۷ اګست ۲۰۲۲

52 ودود پدرام، کاناډا، ۲۳ جولای ۲۰۲۲

هغه د بشري‌حقونو فعالیتونو په اړه د افغانستان اوسنیو واکمنانو اطمینان او په ورته وخت کې د وضعیت په اړه د نړیوالو غیردولتي‌مؤسسو او تمویلوونکو ادارو ابهام او تردید ته اشاره کوي.

خو عبدالله احمدي وايي چې په ستراتیژۍ کې لوی بدلون دا دی چې د بشري‌حقونو مدافعین او غیردولتي‌مؤسسې پخوا په افغانستان کې وې، په سیمه کې یې کار کاوه او اوس په جلاوطنۍ کې دي. هغه زياتوي، «موږ اوس پر برېښنايي چاپېريال او ټولنيزو رسنيو تمرکز کوو، او زموږ ليدونکي او اوريدونکي هم هغه خلک دي چې دا پلټفارمونه کاروي.» له بله اړخه بيا عزيز رفيعي وايي، «د خطر له امله موږ خپله ستراتيژۍ بدله کړې ده او اوس پر بشردوستانه او فقر کمولو چارو تمرکز کوو.»[53] هغه همدارنگه وايي چې په ستراتيژۍ کې دې بدلون لپاره اړتيا وه چې له هېواده بهر دفتر ولرو، او وضعيت ته په کتو د بشري‌حقونومدافعين اوس د قانون حاکميت په برخه کې کار نشي کولای، نو ځکه يې خپلې ستراتيژۍ ته يو نوی جزء اضافه کړ چې هغه د بشري‌حقونو څارنه ده. د ډېرى غيردولتي‌مؤسسو لپاره دا بدلون اسانه نه دی، ځکه دوی لداسې کاري ساحې څخه چې پکې تجربه لري، داسې کاري ساحې ته بدلون نشي موندلای چې پخوا يې پکې کار نه وي کړی. د بېلگې په توگه ودود پدرام وايي، چې هغه د غيردولتي‌مؤسسې د پاليسي‌جوړوونکو او پاليسۍبدولونونو سره کار کاوه، خو اوس هغوی سره يا په هغه ساحه کې کار نه کوي. هغه حيران دی چې دې نوي چاپېريال سره څنگه خپلې غيردولتي‌مؤسسې ته تطابق ورکړي.

## ۴ – فعاليتي فرصتونه

دا برخه د هغه فرصتونو په اړه ده چې د بشري‌حقونو افغان مدافعين يې د خپلو چارو بريالتيوب او خپلو موخو ته د رسېدو لپاره کارولای شي.

### ۴.۱ – څارنه او ثبت

د طالبانو له واکمنېدو وروسته په افغانستان کې د بشري‌حقونو پراخ جنايات ترسره شول، چې ډېری د ځواب‌ورکولو مېکانيزمونو او معلوماتو ته د لاسرسي د نه شتون او د طالبانو گواښونو له امله بې‌څاره او بې‌ثبته پاتې شول. خو په جلاوطنۍ کې د بشري‌حقونو افغان مدافعين د وضعيت د څارنې او د جنايتکارانو له خوا د بشري‌حقونو د نقضونو ثبتونې فرصت لري. دوی باور لري چې په افغانستان کې د بشري‌حقونو متضررين په افغانستان کې د

---

[53] عزيز رفيعي، کاناډا، ۲۳ جولای ۲۰۲۲

مېشتو ادارو په پرتله پر دوی ډېر اعتبار لري، او د معلوماتو شریکولو په صورت کې ددې ډېره شونتیا ده چې د سیمه‌ییزو مؤسساتو پرځای یې دوی سره شریک کړي. دوی د نړیوالو غیردولتي‌مؤسسو سره هم دداسې یو موډل له لارې مرسته کولای شي چې پر مټ یې له هېواده معلومات ترلاسه کړي، بیاکتنه او ارزونه یې وکړي او بیا یې پایلې او تحلیل په جلاوطنۍ کې د بېلابېلو ښکېلو غاړو سره شریک کړي.

دا هغه څه دي چې په افغانستان کې مېشتې غیردولتي‌مؤسسې یې د اوسنیو واکمنانو د جدي محدودیتونو له امله کولای نشي. هغوی نه د قضیو څېړنه او څارنه کولای شي او نه خپلې موندنې خپرولای شي. نو ځکه د بشري‌حقونو جلاوطنه مدافعین باور لري چې په جلاوطنۍ کې د بشري‌حقونو مؤسسې دا تشه ډکولای شي او د بشري‌حقونو هر ډول نقض او جنایات باید ثبت او وساتل شي. د بشري‌حقونو د نقض ثبتولو ترڅنګ دوی کولای شي چې د نوموړو جنایاتو په اړه د خبرونو، اعلامیو او خبرپاڼو د خپرولو له لارې چټک موقف ونیسي او په ستراتیژیکه توګه د رسنیو کارولو له لارې د هېواد دننه او بهر عامه ذهنیت واړوي. د بشري‌حقونو مدافعین باور لري چې ددې فعالیتونو ترسره کول به د بشري‌حقونو د نقض مخه ونیسي او مسؤولین به یې ځواب‌ورکونې ته راکش کړي.

## ۴.۲ – هنر

د بشري‌حقونو مدافعین باور لري چې د مشاعرو، تیاتر، فلمونو، موسیقۍ، نندارتونونو او داسې نورو هنري ابزارو پر مټ کولای شي پر افغانانو د تپل شوي وضعیت انځور روښانه کړي او پر نړیوالې‌ټولنې فشار راوړي چې په افغانستان کې د خلکو د حقونو او خپلواکۍ اعادې لپاره مؤثر ګامونه واخلي. په جلاوطنۍ کې د اوسېدو له لارې د بشري‌حقونو مدافعینو ته دا فرصت شته چې د هنري پروګرامونو له لارې پر خپلو فعالیتونو رڼا واچوي تر څو په افغانستان کې د بشري‌حقونو په اړه نړیوال پوهاوی رامنځته کړي او په نتیجه کې د افغانستان وضعیت د بدلون لپاره خلک او نړیواله ټولنه په خوځښت راولي. د بشري‌حقونو مدافعین د هنر له لارې افغانستان نړیوالې اجنډا ته وړاندې کوي او په افغانستان کې د بشري‌حقونو او خپلواکۍ ناره ژوندۍ ساتي، ترڅو بیا افغانستان له نړیوالې ټولنې څخه هېر نشي او بیا څو کاله وروسته «بیاکشف» شي.

## ۴.۳ – نیاوغوښتنه

د بشري‌حقونو ډېری مدافعین په جلاوطنۍ کې د نیاوغوښتنې دنده مهمه ګڼي. دوی باور لري چې په افغانستان کې نیاوغوښتنه نشته او په هېواد کې د بشري‌حقونو بدلون د نیاوغوښتنې لپاره جلاوطني یوه ښه موکه ګڼي. دوی باورمند دي چې «د بشري‌حقونو افغان مدافعینو بهرمېشتېدنه دوی ته د نیاوغوښتنې ډلې په حیث د ځان

جوړونې یو فرصت دی»[54] او دوی په بېلابېلو هېوادونو کې ګڼو ښکېلو غاړو ته لاسرسی لري او دوی له خپل شتون څخه د نړیوالو غیردولتيمؤسسو او د هېوادونو پالیسۍ د افغانستان د بشريحقونو وضعیت په اړه راخرخولای شي. دوی پر دې هم باور لري چې نړیوالې غیردولتيمؤسسې باید دوی سره د یوځای کېدو او د نیاوغوښتنې ډلو یا خوځښتونو په جوړولو کې مرسته وکړي.

عبدالله احمدي باور لري چې: «که د بشريحقونو مدافعینو او بشريحقونو نهادونو ترمنځ یو ګټور پیوستون او همغږي موجوده وي، دوی داسې یو لوی نړیوال خوځښت رامنځته کولای شي چې پر افغانستان متمرکز وي». هغه زیاتوي، «دا به ډېره ښه وای چې که نړیوالو غیردولتيمؤسسو د افغان نهادونو سره د همغږۍ، ظرفیت او شبکهجوړونې په برخو کې مرسته کړې وای.»[55] نو ځکه په جلاوطنۍ کې د بشريحقونو مدافعین باور لري چې له افغانستانه بهر د غیردولتيمؤسسو په ثبتولو کې باید ورسره مرسته شي، تر څو وکړای شي هغه چارې پر مخ بوځي چې په افغانستان کې دننه مؤسسې یې د ترسرهکولو اجازه نه لري.

د افغانستان له سقوط راهیسې په هېواد کې دننه فعالې غیردولتيمؤسسې نشي کولای چې د بشريحقونو د نقض څېړنه، څارنه یا ثبتونه وکړي او نه هم د بدلون لپاره نیاوغوښتنه کولای شي. په بل عبارت، په افغانستان کې د مدنيبحثونو فضا ډېره راتنګه ده، ځکه خلک په ازاد ډول د راغونډېدلو او د خپل نظر اظهارولو اجازه نه لري. نو ځکه باید په هېواد کې د فعاله مدنيټولنو تشه په جلاوطنۍ کې د بشريحقونو مدافعینو د ملاتړ له لارې ډکه شي تر څو دوی پر اوسنیو واکمنو تر هغه فشار راوړي چې په افغانستان کې د مدنيبحثونو زمینه بیا مساعده شي او نارینه او ښځینه وګړي وکړای شي د خپلو حقونو او خپلواکۍ لپاره ودرېږي.

---

54 حوریه مصدق، برتانیا، ۲۷ جولای ۲۰۲۲

55 عبدالله احمدي، فرانسه، ۲۲ جولای ۲۰۲۲

## ۵ – پایله

د ۲۰۲۱ کال د اگست پر پنځلسمه د طالبانو لخوا د کابل سقوط رواورسته د بشري‌حقونو مدافعینو او د هغوی کورنیو ته د گواښونو له امله د بشري‌حقونو ډیری مدافعین د اروپا، برتانیې، متحده ایالاتو او کاناډا په څېر بېلابېلو هېوادونو ته تخلیه او هلته مېشت شول. د گڼو ننگونو سره سره د بشري‌حقونو افغان مدافعین دا فرصتونه لري چې په جلاوطنۍ کې خپل ځانونه او خپلې غیردولتي‌مؤسسې بیاجوړې کړي او له کوربه هېوادونو څخه د بشري‌حقونو نیاوغوښتنه وکړي. هغوی د نړیوالو غیردولتي‌مؤسسو او بسپنه‌ورکوونکو نهادونو ملاتړ گوري او د هغه شرایطو په لټه کې دي چې پر مټ یې د نیاوغوښتنې ډله یا خوځښت رامنځته کړي او بیا دا وړتیا ترلاسه کړي چې په افغانستان کې د بشري‌حقونو د نقض ساتنه او ثتبول وکړي.

دوی د افغانانو اعتبار د ځان سره لري او په ځانگړې توگه د هغو خلکو باور د ځان سره لري چې د اوسنیو واکمنو لخوا متضررین دي، او د هغو چې حقوق یې تر پښو لاندې شوي او د هغو چې د بشري‌حقونو جلاوطنه مدافعینو سره د معلوماتو شریکولو ته ترجیح ورکوي او د افغانستان‌مېشته مؤسسو سره معلومات شریکول نه غواړي. دا دوی ته دا فرصت ورکوي چې د پېښو څارنه او ثبت وکړي، هنري پروگرامونه دایر کړي، او د افرادو او ټول افغانستان لپاره نیاوغوښتنه وکړي. د بشري‌حقونو ډیری جلاوطنه مدافعین د ملي او نړیوالو مؤسسو سره د تېرو شلو کلونو پراخې تجربې لري. دوی زښت ډېر پوتانشیل لري: دوی د افغان ټولنې پر نبض پوهېږي، دوی په هېواد کې د بشري‌حقونو د وضعیت څارنه او ثبت کولای شي، او په جلاوطنۍ کې یې د بدلون لپاره نیاوغوښتنه کولای شي. خو ددې ټولو کارونو لپاره مالي او تخنیکي ملاتړ ته اړتیا لري چې ځانونه بیاعیار کړي او د هغو نړیوالو غیردولتي‌مؤسسو سره کار وکړي چې په افغانستان مرستې ته ژمن دي. که دوی ملاتړ ترلاسه کړي او د بشري‌حقونو لپاره کار وکړي، دوی به یوازې د اوسني وضعیت لپاره کار نه کوي، بلکې د راتلونکې لپاره هم چې کله وضعیت ښه شي او د بشري‌حقونو مدافعین وتوانېږي چې خپل هېواد ته ستانه شي او هلته کار وکړي. پدې صورت کې به دوی افغانستان ته د یو متحد او بامهارته کاري قوې په حیث ستانه شي او د قوانینو او پالیسیو پر بیارغونه به د گټور اغېز توان ولري.

خو که چېرې د بشري‌حقونو مدافعین له نړیوالو غیردولتي‌مؤسسو او تمویلوونکو نهادونو څخه اړین ملاتړ ترلاسه نه کړي، او په جلاوطنۍ کې خپلې غیردولتي‌مؤسسې بیاراجوړې نه کړي، ډېر امکان شته چې دوی د ژوند نورو کارونو ته مخه کړي چې دې سره به ددوی د تېرو شلو کلونو تجربې ضایع شي – دا نه یوازې د افغانستان لپاره د تجربو ضیاع ده، بلکې د هغو بسپنه‌ورکوونکو هېوادونو لپاره هم د منابعو ضیاع ده چې په تېرو شلو کلونو کې یې لگولې وې. او که چېرته د افغانستان وضعیت بهتره شي، داسې یو بالقوه باتجربه ډله به نه وي چې افغانستان ته

لاړه شي، هلته دوديزې قوې وننګوي او قوانين او پاليسيو ته مثبت بدلون ورکړي. نو ځکه بايد په جلاوطنۍ کې د بشري حقونو مدافعين او غيردولتي مؤسسې په يو نه يوه طريقه لکه د مالي تمويل نوښت او يا اعزامي سيستم له لارو څخه تر هغه حمايت شي چې تر څو خپل ځانونه بياجوړ او په خپلواکه توګه د فعاليت جوګه شي.

## دویمه برخه: سپارښتنې

### الف. د بشري‌حقونو جلاوطنه افغان مدافعینو لپاره

۱. د بشري حقونو جلاوطنه مدافعینو ترمنځ د همغږۍ یو مېکانېزم جوړ کړئ چې بېلابېلو نړیوالو غیردولتي‌مؤسسو، د ملګرو ملتونو مېکانیزمونو، او په تېره بیا د افغانستان د وضعیت په اړه د ځانګړي راپورتار دفتر سره د ګټورې همکارۍ تضمین وکړي. او دا ډاډ به رامنځته کوي چې دا نوښت به تکراري نه، بلکې ټولشموله، روڼ او حساب‌ورکوونکی وي ترڅو مناسب مشروعیت او اغېزناکتوب ترلاسه کړي او دا تضمین هم رامنځته کړي چې د ټولو نوښتونو پایلې به افغانانو ته رسېږي.

۲. د مناسبتونو تدویر، همغږۍ، بسپنه‌راټولونې او په جلاوطنۍ کې د بشري‌حقونو مدافعینو په اړه مالوماتو ته د لاسرسۍ ښه کولو لپاره د یو تعریف‌شوي مېکانیزم له لارې په ځانګړو هېوادونو یا سیمو کې د موضوع اړوند اړیکچاري مشخص کړئ.

۳. د ورته نورو هېوادونو د بشري‌حقونو جلاوطنه مدافعینو سره د همکارۍ له فرصتونو ګټه پورته کړئ چې په جلاوطنۍ د کار کولو پر بېلابېلو لارو پوه شئ، چې پدې کې د څارنې، ثبت او نیاوغوښتنې په شمول نورې لارې چارې شاملې دي، خو چې د نورې اوږدې جلاوطنۍ خطر پکې تر ټولو کم وي.

### ب. بسپنه‌ورکوونکو نهادونو او نړیوالو غیردولتي‌مؤسسو ته

۱. د افغاني غیردولتي‌مؤسسو اداري وړتیا او سیمه‌ییزه پوهه وپېژنئ او د یو یا دوه کلونو لپاره د پلي کوونکي شریک یا همکار په حیث یو یا دوه‌و افغاني‌غیردولتي‌مؤسسو مالي تمویل وکړئ.

۲. د اعزام داسې یو سیستم جوړ کړئ چې د باتجربه نړیوالو غیردولتي‌مؤسسو ځیني کارمندان (په حضوري یا غیرحضوري توګه) افغاني‌غیردولتي‌مؤسسو ته تخنیکي مرسته او مشورې وکړي. او یا د افغاني‌غیردولتي‌مؤسسې یو یا دوه تنه کارمندان په نړیوالو غیردولتي‌مؤسسو کې د فیلوشیپ پروګرامونو له لارې وګمارئ ترڅو هغوی د خپلې مؤسسې په اداري پراختیا باندې کار وکړای شي.

۳. د بسپنه‌ورکوونکو کنفرانس دایر کړئ چې په جلاوطنۍ کې د بشري‌حقونو وضعیت په اړه څه کېدای شي، او ورسره د بشري‌حقونو جلاوطنه مدافعینو او غیردولتي‌مؤسسو ته مالي تمویل ورکړئ. پر دې سربېره، یو څو ورځنۍ ستر کنفرانس جوړ کړئ چې د بشري‌حقونو جلاوطنه افغان مدافعینو، غیردولتي‌مؤسسو، له هېواده بهر مدني‌ټولنو ترمنځ د ګډکار فرصتونه په ژوره توګه وڅېړي.

۴. د بشري‌حقونو جلاوطنه مدافعینو ته موکې برابرې کړئ چې په بېلابېلو نهادونو کې د نیم‌وخت انټرنشپ او فیلوشپ پروګرامونو له لارې په کوربه هېوادونو کې د کار چاپېریال او کلتور تجربه ترلاسه کړي. پر دې سربېره، د برېښنایي امنیت، بسپنه‌راټولونې، اداري پراختیا، شبکه‌جوړونې، اړیکو او نیاوغوښتنې په اړه پرلیکه او حضوري روزنیز پروګرامونه جوړ کړئ چې د بشري‌حقونو مدافعینو مسلکي وړتیا لوړه شي.

۵. د جلاوطنه غیردولتي‌مؤسسو اساسي او اوږدمهالی تمویل وکړئ چې ځانونه راجوړ کړي او په جلاوطنۍ کې خپل کارمندان وساتي. لدې وراخوا، د جنګي جنایاتو، بشر ضد جنایاتو، نسل‌وژنې، ربړونې، صحرایي وژنې، او بشردوستانه مرستو کړلاریو په څېر د بشري‌حقونو د نقض په څارنه او ثبت کې یې ملاتړ وکړئ.

٦. د نړیوالو غیردولتي‌مؤسسو په افغاني واحدونو او پروګرامونو کې د بشري‌حقونو جلاوطنه افغان مدافعین وګمارئ، او د هغوی له سیمه‌ییزې پوهې څخه په ګټنې د اصلي خلکو د ستونزو اړوند د مهمو پروګرامونو عیارېدل او لومړیتوب تضمین کړئ. پر دې سربېره، د افغانستان لپاره ستراتیژیک پلانونو ته د اوسني وضعیت په پام بیاکتنه وکړئ او د بشري‌حقونو جلاوطنه مدافعین او غیردولتي‌مؤسسې پکې د اړونده ښکېلوغاړو او د بشري‌حقونو د بدلون عاملینو په حیث شاملې کړئ.

**ج. دولتونو ته**

۱. د بشري‌حقونو هغه جلاوطنه افغان مدافعینو ته اوسېدنې اقامې ورکړئ چې حقوقي حالت یې نامعلوم دی، ترڅو خپل کار او غیردولتي‌مؤسسو چلولو ته ادامه ورکړای شي. پر دې سربېره، د هغو بشري‌حقونو مدافعینو د کورنۍ غړي تخلیه کړئ چې په افغانستان کې په خطر کې دي او د تخلیې پروګرامونو کې ورته لومړیتوب ورکړئ.

۲. د بشري‌حقونو هغه مدافعینو ته روحي او رواني خدمات ورکړئ چې د افغانستان له سقوط سره یې تروما او شوک لیدلی، ترڅو وکړای شي پر ننګونو برلاسي شي او له روحي اړخه پیاوړي شي.

۳. د بشري‌حقونو افغان مدافعینو ته په جلاوطنۍ کې د غیردولتي‌مؤسسو د ثبتولو اسانه لارې جوړې کړئ، مثلاً په اسانۍ د بانکي حساب جوړول او افغانستان یا نورو هېوادونو ته د پیسو لېږد رالېږد د ځانګړي مېکانیزم پر اساس تنظیم شي.

۴. د بشري حقونو مدافعینو لپاره مناسب حقوقي او عملي شرایط برابر شي، لکه د ویزو اسانه ورکړه، چې په اسانۍ سره وکړای شي چې له کوربه هېواد بهر د بشري حقونو په مناسبتونو کې ګډون وکړي او خپل فعالیت ته دوام ورکړي، او دا تضمین کړي چې د هغوی ژبه او مسلکي ښوونځي د نومو‌ړو چارو اجازه ورکوي.

**د. په افغانستان کې یوناما ته**

۱. د افغانستان پر اوسنیو واکمنانو اغېزناک فشار راوړئ چې د بشري حقونو جلاوطنه مدافعین وکړای شي خپلو کنګل شویو شخصي او اداري بانکي حسابونو ته لاسرسی ومومي.

۲. ددې تضمین ترلاسه کړئ چې د افغانستان اوسني واکمنان دې د غیردولتي مؤسسو په چارو کې لاسوهنه نه کوي او یا دې د مدني ټولنو د انحصارولو هڅه نه کوي. لدې وراخوا دا ډاډ هم ترلاسه کړئ چې د ملګرو ملتونو بېلابېلې اداري دې د هغو غیردولتي مؤسسو مالي ملاتړ نه کوي چې د اوسنیو واکمنانو لخوا تمویلیږي او یا د هغوی خواخوږي وي.